

مومند
خپرندویه ټولنه





# د افغانستان او امریکا

## د متحدو ایالتونو اړیکې؛
## د سپټمبر ۱۱ مې پېښنو ته یوه تاریخي کتنه

لیکوالان: مسرت جبین، ډاکټر محمد سلیم مظهر، ناهید اس گوریا
ژباړن: څېړنیار محمد سرور احمدزی

# د افغانستان او امریکا د متحدو ایالتونو اړیکې؛
# د سپټمبر ۱۱ مې پېښو ته یوه تاریخي کتنه

لیکوالان: مسرت جبین، ډاکټر محمد سلیم مظهر، ناهید اس ګوریا
ژباړن: څېړنیار محمد سرور احمدزی

**د کتاب ځانګړنې:**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **د افغانستان او امریکا د متحدو ایالتونو اړیکې؛ د سپتمبر ۱۱ مې پېښو ته یوه تاریخي کتنه** |
| لیکوالان: | مسرت جبین، ډاکتر محمد سلیم مظهر، ناهید اس ګوریا |
| ژباړن: | څېړنیار محمد سرور احمدزی |
| ډیزاین چارې: | عبدالهادي اثر ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳ |
| خپرندوی: | مومند خپرندویه ټولنه - جلال آباد |
| برېښنالیک: | momand.books@gmail.com |
| چاپ کال: | ۱۳۹۲ل |
| چاپ شمېر: | ۲۰۰۰ |
| چاپوار: | لومړی |
| چاپځای: | مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه |


د چاپ ټولې رښتې له خپرندوی سره خوندي دي

**د ترلاسه کولو پتې:**

عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی، مخابراتو څلورلارې - جلال آباد. اړیکې: ۰۷۰۰۲۲۲۱۲۱ / ۰۷۷۷۲۲۲۱۲۱

خوست: غرغښت کتاب پلورنځی او سباوون کتاب پلورنځی.

ګردېز: علمي کتاب پلورنځی، حمید ګردېزي مارکیټ

پکتیکا (شرنه): مجاهد کتاب پلورنځی / کابل: اصلاح و افکار کتاب پلورنځی، خیبر کتاب پلورنځی او مستقبل کتاب پلورنځی. هلمند: سید جمال الدین کتاب پلورنځی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

د ژباړن خبرې / ۱
د دې اثر په اړه / ۴
لنډیز / ۱
معرفي / ۳
د ظاهر شاه د سلطنت پر مهال... / ۶
دويمه نړۍ واله جګړه او... / ۸
د سړې جګړې پر مهال د امریکا... / ۱۱
د افغانستان او پاکستان ترمینځ... / ۱۴
د ډالس پالیسي؛ افغانستان... / ۱۸
په افغانستان کې د پاچاهۍ... / ۲۷
د شوروي تېری او ... / ۳۱
د مقاومت ډلې او د امریکا... / ۴۰
د ملګرو ملتونو هڅې او د... / ۴۵
د لوبې پای او د طالبانو... / ۵۲
د ۲۰۰۱ زیږدیز کال د سپتمبر... / ۶۲
پایله / ۷۰
یادونې / ۷۳
References / ۷۵

# د ژباړن خبرې

دسړې جګړې ترپای ته رسېدو او دپخواني شوروي اتحادله ړنګېدو وروسته امریکا په نړیواله کچه پرخپل سترسیال او دوښمن هیوادباندې دبرلاسي په تر لاسه کولو ،دنړۍ دیوازني سترځواک او قدرت په توګه راڅرګند شو.
ترسړې جګړې وروسته دامریکا متحدو ایالتونو په نړیواله کچه کوم ځانګړی ایډیالوژیک دوښمن نه درلود ،خو دسعودي ناراضي اسامه بن لادن په مشرۍ دالقاعده شبکې لخوا پر امریکا د۲۰۰۱ زیږدیز کال دسپتمبر۱۱ مې له بریدونو وروسته دامریکابهرنی سیاست دنړیوال تروریزم پر وړاندې دجګړې ترنامه لاندې یوځل بیا فعال شو ،چې له امله یې افغانستان دامریکا په بهرني سیاست کې ځانګړی ځای وموند.
له څو لسیزو راهیسې دامریکا متحدو ایالتونو دافغانستان پر سیاسي بدلونونو او پرمختګونو ځانګړی اغیز درلود ، له۲۰۰۱ زیږدیزکال راپدې خوا دنظامي شتون ترڅنګ،دافغانستان په سیاسي،اقتصادي،نظامي اوټولنیزوبدلونونو کې ددغه هیواد اغیزپه څرګند ډول لیدل کیږي.

همدارنګه ددوارو هيوادونو ترمنځ دستراتيژيکي ملګرتيا او همکارۍ تړون لاسليک کيدل ددواړو هيوادونو ترمنځ په اړيکوکې يو مهم بدلون او پړاو ګڼل کيږي، چې له مخې به يې د امريکامتحدايالتونه تراوږدې مودې په افغانستان کې دپاتې کيدو ترځنګ د افغانستان له حکومت نه خپل اوږد مهاله ملاتړته هم دوام ورکړي.

پورتنيو ټکوته په پام سره ما وغوښتل څو دافغانستان او دامريکاد متحدو ايالتونود اړيکو په اړه ددريو تنو څيړونکو مسرت جبين، ډاکټر محمد سليم مظهر او ناهيد اس ګوريا اثر له انګريزۍ ژبې پښتو ته راوژباړم. دغه کتاب به دهغو درنو لوستونکو لپاره، چې دافغانستان او امريکا داړيکو په اړه دمعلوماتو لاس ته راوړل غواړي ګټور واوسي. کتاب له امريکا سره دافغانستان داړيکو يو ډيرځرګند انځور وړاندې کوي.

په دې کتاب کې دظاهرشاه دسلطنت پرمهال له امريکا سره داړيکو رامنځ ته کولو په موخه دافغانانو په هڅو، په دويمې نړيوالې جګړې اودهغې په اغيزو، دسړې جګړې پرمهال دامريکادمتحدو ايالتونو په پاليسو، دافغانستان اوپاکستان ترمنځ دپولې پرلانجې اوپه دې اړه دامريکاپه دريځ، دامريکادبهرنيو چارو وزيرډالس پرپاليسو، شوروي اتحاد لوري ته دافغانستان دتمايل پر دلايلو، په افغانستان کې دپاچاهۍ په پای، په افغانستان باندې دشوروي پر تيري اودهغه پر پايلو، دافغان مقاومت له ډلوسره دامريکا په پټو مرستو، دافغانستان دلانجې حل لپاره دملګرو ملتونوپه هڅو او دژنيوپه توافقاتو، دطالبانو په راڅرګنديدلو او د۲۰۰۱ زيږديز کال دسپتمبر ۱۱ مې په بريدونو باندې بحث شوی.

هڅه شوې چې کتاب په روانه او ساده ژبه وژباړل شي، څو ټولو درنو لوستونکو ته دفهم او درک وړ وګرځي، ددې ترڅنګ دکتاب ژباړه په پوره امانت داری ترسره شوې، ټول هغه ماخذونه چې ددې کتاب په بشپړتیا کې ترې ګټه اخیستل شوې دکتاب په وروستی برخه کې په انګریزي ژبه راواړل شوي، څو هغه درانه لوستونکي چې دزیاتو معلوماتو لاس ته راوړل غواړي، په آسانی سره یادماخذونه ترلاسه کړي.

په پای کې باید ووایم، چې له زیاتو هڅوسره سره، ښایي په ژباړه کې رانه تیروتنې شوې وي، هیله ده درانه لوستونکي راته ښښنه وکړي

په درنښت

خیرنیار محمد سرور احمدزی

کابل، داپریل ۲مه، ۲۰۱۳ زکال

# د دې اثر په اړه

افغانستان د ځانګړي جيو پوليټيک او جيو ستراتيژيک موقعيت په درلودلو سره، تل د نړۍ د سترو ځواکونو او نيواکګرو د پام وړ ګرځيدلی. د انګريزي او روسي استعمار تر منځ د لويې لوبې څخه نيولې د سوسياليزم او کاپيټاليزم تر منځ د سړې جګړې او بيا اوس مهال د ترهګرۍ او افراطيت تر نړيوالې جګړې پورې دا هيواد د څبرځواکو هيوادونو د توجه مرکز ګرځيدلی. يعنې د تاريخ په اوږدو کې افغانستان تل د ګاونډيو او هم د وخت د سترو ځواکونو د سيالۍ مرکز ګرځيدلی.

دا هيواد د منځنۍ آسيا، جنوبي آسيا او لوېديځ مدنيتونو ترمنځ د نښلونکې کړۍ په توګه د بيلا بيلو مدنيتونو تر منځ د راکړې ورکړې او تګ را تګ يوه مهمه لار ده، چې له هغې له جملې څخه د وريښمو لارې يوه ژوندۍ بيلګه ده.

په اتلسمه پيړۍ کې د تزاري روسيې او برتانيوي استعمار ګټې په دې کې وې چې روسيه له آمو سيند څخه دافغانستان لوري ته وا نه وړي او

همدارنګه انګلیس له شمال نه افغانستان ته نږدې نه شي، د دوی تر منځ دا سیمه (افغانستان) باید د حایل هیواد نقش ولوبوي.
په ۱۸۹۵ زیږدیز کال کې تزاري روسیې او انګلیس پریکړه وکړه، چې افغانستان به د انګلیس او روسیې د امپراطوریو تر منځ د حایل هیواد په توګه پیژني. له دې سره انګریزي استعمار هرډول هڅې وکړې تر څو افغانستان ایل کړي خو کله یې چې یاده موخه ترلاسه نه شوه کړای، نو بیا انګریزان له روسانو سره د افغانستان پر سر خبرو ته چمتو شول، د دوی تر منځ پریکړه وشوه څو افغانستان د یوه حایل یا بفر ستېټ په توګه ومني.
که له یوې خوا د افغانستان مهم جیو پولیټیک او ستراتیژیک موقعیت افغانستان ته ځانګړتیاوې وربښې خو له بلې خوا بیا افغانستان د سترو ځواکونو اوبیلا بیلو هیوادونو تر منځ د سیالیو په ډګر بدل شوی.
د کمونیزم او کاپیټالیزم تر منځ سره جګړه د ۱۹۷۹ زیږدیز کال دډسمبر په ۲۷ مه په افغانستان باندې د شوروي له یرغل سره په تودې جګړې واوښته او دواړو سترو ځواکونو (شوروي او امریکا) افغانستان له یو بل سره د ډغرو دمیدان په توګه وټاکی.
د افغانستان او امریکا تر منځ لومړی ځل اړیکې په ۱۸۳۰ زیږدیز کال کې افغانستان ته د پینسلوانیا داوسیدونکي جوزیا هرلان په راتګ سره پیلیږي. نوموړي دخپل سفر پر مهال له شاه شجاع او امیر دوست محمد خان سره لیده کاته ترسره کړل.
تردویمې نړیوالې جګړې وړاندې همکارۍ او ګوښه توب دامریکا دمتحدو ایالتونو دبهرنۍ پالیسۍ اصلي برخه جوړوله، د امریکا

حکومت د لومړني ولسمشر جورج واشنګټن د ګوښه توب پالیسي (چې په اتحادونو کې له ګډون څخه باید دوی ځان وساتي) غوره کړې وه.
که څه هم دامریکا متحدو ایالتونو په ۱۹۳۴ زیږدیز کال کې افغانستان په رسمیت وپیژنده او د دواړو هیوادونو ترمنځ رسمي ډیپلوماتیکې اړیکې په ۱۹۴۲ زیږدیز کال کې رامنځ ته شوې. مګر په افغانستان کې دامریکا دسوداګریزو ګټو نشتون او دبرتانیې له لوري دافغان بهرنۍ پالیسۍ پرمخ وړل، د دواړو هیوادونو ترمنځ دښو اړیکو درامنځ ته کیدو مخه نیوله
د افغانستان پخواني پاچاامان الله خان له امریکا سره د اړیکورامنځ ته کولو په موخه زیاتې هلې ځلې کولې اوخپل یوشخصي پلاوی یې له امریکا سره د دوستانه اړیکو رامنځ ته کولو په موخه دغه هیواد ته واستاوه، مګر د امریکا دمتحدو ایالتونو له خوا له افغانستان سره داړیکو رامنځ ته کولو لپاره کومه علاقه مندي ونه ښودل شوه.
ځکه چې امریکا افغانستان دانګریزانو داغیزې اونفوذ سیمه ګڼله، همدارنګه دافغانستان اوجرمني ترمنځ دوستانه اړیکو هم له امریکا سره د افغانستان په اړیکو اغیزدرلود، دافغانانو او جرمني ترمنځ ملګرتیا د المان او امریکا تر منځ اختلافونو او جګړې له امله دامریکایانو نه خوښیدله
د افغانستان له لوري د دوامدارو هڅو په پایله کې په ۱۹۳۷ زیږدیز کال کې دکابل اوواشنګټن ترمنځ اقتصادي همکاري پیل شوه، افغان حکومت امریکایي کمپنیو ته دتیلو راویستلو په برخه کې دپراخو امتیازونو ورکول ومنل، دافغانستان حکومت دلومړي ځل لپاره له امریکن أنلینډ ایکس پلوریشن ایل کمپنۍ سره د ۷۵

کلونولپاره دتیلودزیرمو دراویستلو تړون لاسلیک کړ، افغانستان امریکايي مارکیټونو ته دپوستکو او وچې میوې صادرول پیل کړل، چې تر۱۹۵۰ زیږدیزکال پورې یې دوام وموند.
د دویمې نړیوالې جګړې له ختمیدو سره سم د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه عبدالحسین عزیز متحدو ایالتونو ته د افغانستان د لومړي سفیر په حیث واستاوه. همدارنګه ولسمشر روزویلت د ۱۹۳۵ زیږدیزکال د نومبر په میاشت کې ویلیم هورنیبروک افغانستان ته د امریکا د لومړي سفیر په حیث ولیږه.
تردویمې نړیوالې جګړې وروسته امریکا دافغانستان لپاره دسترې برتانیې ځای ناستې شوه، افغانستان دنړیوالې سولې او ډیموکراسۍ لپاره دامریکا دنوي رول هرکلی وکړ، همدارنګه په مقابل کې دامریکا دبهرنیو چارو وزارت ومنله، چې افغانستان په منځنۍ ختیځ کې دامریکا دبهرنۍ پالیسۍ لپاره ستراتیژیک اهمیت لري.
د دواړو هیوادونو تر منځ د اړیکو یو نوی پړاو پیل شو، دموریسن کنوډسن په نوم امریکايي کمپنۍ له افغان حکومت سره د ۱۷ میلیونو امریکايي ډالرو په ارزښت یو تړون لاسلیک کړ، چې له مخې به یې دافغانستان په جنوبي ولایت هلمند کې داوبولګولو په موخه کانالونه او دبریښنا دتولید په موخه داوبو بندونه جوړیدل، دا یوه مهمه ځوموخي لرونکې پروژه وه، دافغان ملي بانک مشر عبدالمجید زابلي دامریکا دمرستو او همکارۍ لاس ته راوړلو په موخه دغه هیواد ته سفروکړ، نوموړي له امریکايي چارواکو نه د ۱۱۸ میلیونو امریکايي ډالرو پور غوښتنه وکړه، مګر دامریکا دصادراتو او وارداتو بانک یوازې د ۲۱ میلیونو ډالرو پورورکول ومنل، دغه پور دیادې پروژې دپلي

کولولپاره کفایت نه کاوه، یاده پروژه دکافي مرستو دنشتون او د خاورې خرابوالي له امله له ناکامۍ سره مخ شوه. افغان حکومت هڅه کوله تر څوله امریکایانو سره نږدې اقتصادي اړیکې رامنځ ته کړي.

د دویمې نړیوالې جګړې را په دیخوا د سړې جګړې له پیلیدو سره سم افغانستان دامریکا لپاره ځانګړې اهمیت پیدا کړ، همغه شان اهمیت چې په نولسمه پیړۍ کې یې د سترې لوبې پرمهال دانګریزانو لپاره درلوده، دامریکا متحد ایالتونه په افغانستان کې د پخواني شوروي اتحاد داغیز زیاتیدو او ګرمو اوبو ته دهغوی درسیدواو نږدې کیدو له امله په ویره کې وو.

د دواړو هیوادونو تر منځ د لوړپوړیو چارواکیو سفرونه تر سره شول، د۱۹۵۱ زیږدیز کال په مارچ کې د سویلي آسیا لپاره دامریکا دمتحدو ایالتونو دبهرنیو چارو وزارت مرستیال جورج مکګي کابل ته راغی او په کابل کې یې دافغانستان دفاع له وزیر محمدداوود خان سره دنظامي مرستو او د پښتونستان مسلې په اړه خبرې وکړې، همدارنګه دافغانستان دبهرنیو چارو وزیر سردار نعیم امریکا ته د سفر پرمهال په افغانستان باندې د شوروي داحتمالي برید په اړه خپلې اندیښنې له امریکا یي مشرانو سره شریکې کړې او یوځل بیا یې له امریکایي لوري غوښتنه وکړه، څوله افغانستان سره نظامي مرستې وکړي. د دې تر څنګ نوموړي د بغداد په تړون کې د ګډون لپاره خپله علاقه مندي وښوده. دامریکا دبهرنیو چارو وزارت دافغان لوري غوښتنې له دې امله چې شوروي اتحاد او پاکستان به یې پروړاندې غبرګون وښیي، رد کړې.

د ۱۹۵۹ زیږدیز کال په جون کې داوود خان په یوه رسمي سفر دامریکا متحدو ایالتونو ته ولاړ، نوموړي یوځل بیا ددواړو هیوادونو ترمنځ

ددوستانه اړیکو درامنځ کولو په اړه خپله غوښتنه تکرار کړه.
د ۱۹۵۹ زیږدیزکال په جون کې دامریکا ولسمشر ایزنهاور جنوبي آسیا ته دسفر پرمهال له کابل نه هم لیدنه وکړه، ولسمشر ایزنهاور دخپل سفر پرمهال دکابل هوایي ډگر جوړولو په موخه افغان حکومت ته د ۱۰ میلیونو امریکایي ډالرو پوز ورکول هم اعلان کړل.
د افغانستان لپاره دا یو ډیر په زړه پوری فرصت وه تر څو د نړۍ د دوو ابر قدرتونو څخه چې په دې هیواد کې یې گټې لرلې او د نفوذ پیدا کولو هڅې یې کولې، گټه تر لاسه کړي. په ۱۹۲۰ لسیزه کې د سړې جگړې دوو سیالانو له افغانستان سره خپلو اقتصادي مرستو ته دوام ورکړ.
افغانستان په حقیقت کې د منځنۍ آسیا په فنلینډ بدل شوی و، افغانستان یو غیرکمونیست دولت و، مگر دخپل کمونیست گاونډي امنیتي اندیښنو لپاره خورا مهم گڼل کیده.
په ۱۹۷۰ لسیزه کې واشنگټن او مسکو د (Détente) کړکیچ کمولو پالیسۍ رامنځ ته کړه، چې له مخې یې ددواړو سترو ځواکونو ترمنځ په کړکیچ او اختلافونو کې کموالی راغی، دامریکا متحدو ایالتونو سیمې ته په خپلو مرستو کې کموالی راوست.
د (détente) کړکیچ کمولو پالیسۍ په لسیزه کې شوروي له یوه پلوه غوښتل تر څو د خپل نفوذ د پراخولو لپاره پراخه ستراتیژي را منځ ته کړي، امریکایانو دشوروي هڅې له پامه غورځولې وې ددې ترڅنگ امریکایانو دافغانستان پولو ته دشوروي ځواکونو راتولیدل او دوسلو ځای پرځای کول له پامه غورځولي و، دامریکا استخباراتي ادارو په افغانستان باندې دشوروي د احتمالي برید په اړه واشنگټن ته راپورونه استولي وو، مگر په واشنگټن کې چارواکي له یادو راپورونو سره موافق

نه وو.
د ۱۹۷۹ زیږدیزکال په ډسمبر کې امریکایي وګړي چې د کریس میس په لمانځلو بوخت وو، په افغانستان باندې د شوروي یرغل خبر اوریدلو سخت ټکان ورکړ او د خپلو استخباراتي ادارو د غفلت او ناتوانۍ په اړه یې جدي پوښتنې راپورته کړې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، ولسمشر کارتر او نورټول لوړپوړي چارواکي د دې ډول حالت د منځ ته راتللو له امله حیران وو، ځکه هغوی د کړکیچ کمولو ( détente) پالیسۍ پرمخ وړلو سره علاقه مندي درلوده، کومه چې یوه ناکامه هڅه ثابته شوه. په مقابل کې له ټولو تړونونو د شوروي موخه داوه، څو په نړیواله کچه یو پیاوړی اوبرلاسی ستر ځواک پاتې شي.
ولسمشر کارتر له برژنیف نه غوښتنه وکړه، چې یا دې له افغانستان نه خپل ځواکونه وباسي او یا دې د خپل تیري جدي پایلو کتلو ته منتظروو سي.
د امریکا متحدو ایالتونو په غیر مستقیمه توګه د افغان مقاومت له ډلو سره مرستې پیل کړې، پاکستان د لومړۍ کرښې پردولت بدل شو، په ۱۹۸۱ زیږدیزکال کې ولسمشر ریګن د شوروي اتحاد تهدید د مخنیوي په موخه اوله پاکستان سره د مرستې لپاره له کانګریس نه د ۳،۲ میلیارده ډالرو مرستې د تصویب غوښتنه وکړه، د مرستو ترڅنګ امریکایانو غوښتل څود پاکستان له لارې افغان مجاهدینو ته پیسې او وسلې واستوي.
د پاکستان استخباراتي ادارې آی ایس آی د ټولو هغو ډلو لپاره چې په افغانستان کې یې د شوروي ځواکونو پروړاندې جګړه کوله د وسلو برابرولو مسولیت پرغاړه واخیست. سي آی اې د امریکا د متحدو

ایالتونو او سعودي عربستان په پیسو باندې افغان مجاهدینو ته د نظامي وسایلو برابرول پیل کړل.

امریکایي پالیسۍ جوړونکو غوښتل، چې افغان مجاهدینو ته د مرستو زیاتولو له لارې شوروي ځواکونه د مصروف ساتلو ترڅنګ سم وځپي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د شوروي پرضد تعرضي پالیسي را منځ ته کړه. د ۱۹۸۵ زیږدیز کال په مارچ کې ولسمشر ریګن یو پټ لارښود NSDD 166 لاسلیک کړ، چې له مخې به یې افغان مجاهدین په بشپړه توګه وسله وال کیدل څو شوروي ځواکونو ته ماتې ورکړي.

شوروي د ژنیو د توافقاتو په ترڅ کې له افغانستان څخه ووت. شوروي اتحاد په افغانستان کې د افغانانو د مقاومت په پایله کې مات شو، امریکا له شوروي نه دویتنام غچ واخیست، زیات شمیر شوروي سرتیري په افغانستان کې ووژل شول، د دې ترڅنګ په افغانستان کې د جګړې له امله شوروي ته ستر اقتصادي او نظامي زیان واوښت. شوروي په افغانستان کې مداخلې نه له شرم او رسوایۍ پرته نور هیڅ هم ترلاسه نه کړل، په دې توګه شوروي په نړۍ کې خپله ابرو او حیثیت له لاسه ورکړ.

د شوروي له وتلو سره سم لویدیځ ته نور افغانستان په زړه پورې نه و، ترجګړې وروسته په افغانستان کې د امریکا ګټې محدودې شوې، امریکایانو په افغانستان کې دیو باثباته حکومت جوړولو په اړه یوازې اندیښنې څرګندولې. د امریکا یوازنۍ موخه د شوروي ماتې او ځپل و، له همدې امله یې د پاکستان له لارې له افغان مجاهدینو سره مرسته کوله

افغانستان چې شوروي سره جګړې یې ټول بنسټونه نړولي وو، په یوې خونړۍ کورنۍ جګړې اخته شو. څرنګه چې سترو قدرتونو له افغانستان څخه پښې سپکې کړې نو یو کمزوري او په کورنۍ جګړې اخته افغانستان د سیمې د هیوادونو د سیالیو ډګر شو، او له دې سره القاعده او عرب توندلارو وکولای شول،له فرصت نه په استفادې او د پاکستان په مرسته، افغانستان د توندلارو دروزنیز او عملیاتي مرکز په توګه وکاروي.

چې پایله یې په نیویارک او واشنګټن باندې د۲۰۰۱ زیږدیز کال د سپتمبر د۱۱ مې بریدونه وو. د سپتمبر یوولسمې پیښې یو وار بیا نړۍ او په ځانګړې توګه امریکا افغانستان ته ځیر کړه،امریکا دافغانستان پروړاندې په خپلې پالیسۍ بیا له سره کتنه وکړه او د ترهګرۍ پروړاندې یې جګړه پیل کړه.

دامریکا متحدو ایالتونو د۲۰۰۱ زیږدیز کال داکتوبر په ۷ مه په افغانستان نظامي برید وکړ.امریکا په لنډه موده کې دطالبانو رژیم ړنګ کړ.

تقریباً دولس کاله کیږي چې امریکا د نړیوالو پوځونو سره یو ځای په افغانستان کې د ترهګرۍ پر ضد جګړه کې اخته ده مګر نه یوازې دا چې جګړه پای ته ونه رسیدله، بلکې ورځ تر بلې دا جګړه پراخیږي او لا اوږدیږي. د جګړې پراخیدو او اوږدیدو په افغانستان کې د امریکا د شتون او موخو په اړه پوښتنې را پورته کړي.

دا یو څرګند حقیقت دی، چې امریکا له افغانستان سره داړیکو له لارې غواړي په منځنۍ آسیا کې خپل اغیز ته پراختیا ورکړي او په یاده سیمه کې دچین او روسیې د اغیزې زیاتیدو مخه ونیسي. پیښې په

وواییې که امریکا دوی ته نظامي مرستې ورنه کړي، نو دوی به شوروي اتحاد ته مخه کړي. په همدې مهال په کابل کې د امریکا سفارت له خپل حکومت نه غوښتنه کوله، څو د شوروي د اغیزې د مخنیوي په موخه افغان حکومت باندې وسلې وپلوري.
افغانستان ته د امریکا له لوري د نظامي مرستو نه ورکولو بل دلیل د افغانستان او پاکستان ترمنځ لانجې وې، واشنګټن د پاکستان ستراتیژیک اهمیت د ځان لپاره ډېر مهم ګاڼه، په داسې حال کې چې افغانستان یو لرې پروت، وړوکی، غریب او د کمو طبعي سرچینو په لرلو سره غیر مهم هېواد و، نو په دې توګه واشنګټن د افغانستان د ستراتیژیک اهمیت د نه درکولو په برخه کې غلط قضاوت کړی و، د امریکایانو د غه وړاندوینه چې افغانستان د کرملین لپاره ځانګړي اهمیت نه لري غلطه او ناسمه ثابته شوه، نو په دې توګه په افغانستان کې د شوروي د اغیزې او فعالیتونو په اړه امریکایانو کومه ځانګړې اندېښنه نه درلوده بلکې د افغانستان په اړه د دوی اندېښنې د پښتونستان په مسلې پورې تړلې وې، ځکه افغان حکومت د ډېورند کرښه تر پوښتنې لاندې راوستې وه او د پښتنو لپاره یې د یو جلا دولت د جوړېدو غوښتنه کوله، پاکستان له جیوستراتیژیکې پلوه په خورا پیاوړي موقف کې و او کولای یې شول څو په کابل باندې فشار راوړي، په وچې پورې تړلی افغانستان له بهرنۍ نړۍ سره د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخو کې د پاکستان همکارۍ او مرستې ته اړو.

# د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې لانجه او د امریکا دریځ

د۱۹۵۱ زیږدیز کال په مارچ کې د جنوبي آسیا لپاره د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت مرستیال جورج مکګي کابل ته راغی او په کابل کې یې د افغانستان د دفاع له وزیر محمد داوود خان سره د نظامي مرستو او د پښتونستان مسلې په اړه خبرې وکړې، مګو د ستونزې د حل لپاره یوه آسانه حل لاره نه ترسترګو کیده، مکګي ویره دې چې ملګرو ملتونو ته د افغانستان او پاکستان ترمنځ د شخړې وړاندې کول به د شوروي لاسوهنې ته زمینه برابره کړي.مکګي دا په ډاګه کړه، چې پښتونستان او نوروتږلوستونزو ته باید د شوروي اتحاد د پراختیا غوښتونکو پالیسیو په رڼا کې وکتل شي.د کومو له مخې چې شوروي غواړي څو په اروپا او آسیا کې د ځواک او قدرت له تشې نه ګټه پورته کړي،همدارنګه نوموړی د افغانستان او پاکستان ترمنځ د دوه اړخیزو خبرو د ارزښت په اړه شکمن و.

په سیمه کې د امریکا د متحدو ایالتونو د شتون زیاتیدو پخوانی شوروي اتحاد چې له افغانستان سره یې اوږدې تاریخي اړیکې لرلې او دغه هېواد یې د خپلې اغیزې په ساحه کې شامل ګڼنه اړکړ، څو په افغانستان کې د خپلو ګټو او اغیز په اړه بیا له سره کتنه وکړي.له همدې امله نیکتیا خروچف وویل "چې امریکایان له افغانستان سره د اړیکو د نږدې کیدو په هڅه کې دي، امریکایان په افغانستان که له بېلا بېلو پروژو سره مرسته کوي، هغه پانګونه چې موږ په افغانستان کې کړې باید ضایع نه شي، موږ د افغانانو باور ترلاسه کړی او باید دغه باور د امریکا په وسیله لمنځه ولاړ نه شي".
د کوریا ترجګړې وروسته د امریکایانو اندیښنې لا پسې زیاتې شوې او په آسیا کې د شوروي لخوا په نورو د تیري په اړه پراخه ویره منځ ته راغلې وه، د امریکا متحدو ایالتونو له دواړو هېوادونو وغوښتل، څو د پښتونستان مسله حل کړي، د امریکا د متحدو ایالتونو وړاندیزداوه، څو کابل او کراچۍ دواړه دیو بل پروړاندې د پروپاګنډې مخه ونیسي، د خبرو او ډیپلوماسۍ له لارې خپلې ستونزې هوارې کړي، مګر افغانستان مناسب دریځ نه درلوده، د امریکا متحدو ایالتونو د پښتونستان په تړاو د افغانستان د دریځ په اړه کوم قانوني دلیل نه لیده، همدا اصلي دلیل و چې له مخې یې افغانستان ونه شو کولای څو د امریکا له متحدو ایالتونو نه وسلې ترلاسه کړي.د دې ترڅنګ د امریکا له لوري افغانستان ته د نظامي مرستو نه ورکولو بل دلیل د افغان حکومت کمزوري وه، د امریکا بهرنیو چارو وزارت افغانستان ته په نغدو پیسو د وسلو پلورلو وړاندیزو کړ، افغانستان دغه وړاندیز له سیاسي پلوه د خپلې غوښتنې درد یدلو په معنی وګاڼه

واشنګټن د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سختو اختلافونو د شتون له امله په اندیښنه کې و، په ۱۹۵۲ زیږدیز کال کې د امریکا متحدو ایالتونو زیاتې هڅې وکړې، څو د دواړو لوروترمنځ د خبرو له لارې ستونزه هواره کړي مګر افغانستان نه غوښتل څوله پاکستان سره په خپلو اړیکو کې ښه والی راولي.

واشنګټن په مسکو کې د خپل سفارت په غوښتنه د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې پرسر د شخړې حل کولو نه لاس واخیست. شوروي اتحاد له موجوده حالت نه خوښ نه ښکاریده، د امریکا لپاره د امناسبه نه وه څود داسې یو هېواد لپاره چې د شوروي اتحاد موخې په کې په آسانۍ سره پلې کیدای شوې یوه اغیزمنه پالیسي رامنځ ته کړي. په ۱۹۵۲ زیږدیز کال کې واشنګټن افغانستان او پاکستان دواړه د پښتونستان لانجې د نه حل له امله د خپلې بهرنۍ پالیسۍ له اجنډا نه وویستل.

د دې ترڅنګ یې د دواړو هېوادونو لپاره خپلې اقتصادي مرستې هم ودرولې، مګر شوروي اتحاد په افغانستان کې د خپلې اغیزې د پراختیا لپاره هڅې پیل کړې، شوروي له افغانستان سره د تیلو د استخراج په برخه کې همکاري پیل کړه، افغان حکومت د نویو سړکونو جوړولو لپاره یو پلان جوړ کړ، د دې پروژې د پلي کولو په موخه افغان حکومت له امریکا نه د یو میلیون امریکایي ډالرو اقتصادي مرستې غوښتنه وکړه مګر د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغان لوري غوښتنې ته ځانګړې پاملرنه ونه کړه. له امریکا نه ترمایوسه کیدو وروسته افغان حکومت خپل مخ شوروي اتحاد ته واړوو، داهغه څه و چې شوروي یې لاله وړاندې انتظار کاوه.

شته اسناد اوثبوتونه داڅرګندوي چې واشنګټن دشوروي اتحادښکیلتیا جدي نه وه ګڼلې اوله افغانستان نه یې یوازې اخلاقي ملاتړښودلی و، امریکا داخطر درک کړی نه و، چې افغانستان به دشوروي په وسیله سقوط کوي

## د ډالس پالیسۍ؛
## افغانستان له پامه غورځول

په ۱۹۵۳ زیږدیز کال کې جان فیستر ډالس دامریکا دبهرنیو چارو وزیروټاکل شو. په همدې کال سردار محمد داوود خان دافغانستان لومړی وزیرشو، ډالس دامریکا له ملاتړو هېوادونو سره ددفاعي اتحادیو دجوړولوله لارې دسرې جګړې پالیسیو ته نوې بڼه اوانګیزه ورکړه، دامریکا متحدوایالتونوغوښتل څوپه نړۍ په ځانګړې توګه په جنوبي آسیا کې دکمونیزم دپراختیامخه ونیسي، نوله همدې امله یې له هغوهېوادونوسره چې له شوروي اتحاد اوچین سره یې جغرافیایي نږدیوالی درلوده، نږدې ډیپلوماتیکې اړیکې رامنځ ته کړې.
د۱۹۵۴ زیږدیزکال دنویو پالیسیو له مخې امریکا له پاکستان سره پراخې اقتصادي اونظامي مرستې پیل کړې، چې له امله یې افغان حکومت په بشپړه توګه ناارامه شو. په واشنګټن کې دافغانستان سفیر له ډالس اودمکګي له ځای ناستي هنري بایروډ سره خپله اندېښنه او

ویره شریکه کړه، افغان سفیر اندیښنه ښودلې وه چې له پاکستان سره دامریکا مرستې به پاکستان نور هم سرسخته کړي اوپه سیمه کې به دځواک اوقواو انډول لمنځه یوسي.نوموړي له امریکا غوښتنه کړې وه چې افغانستان ته دې هم نظامي مرستې ورکړي.

په وروستیوکلونو کې دافغانستان دبهرنیوچارو وزیر سردار نعیم امریکا ته دسفر پرمهال په افغانستان باندې دشوروي داحتمالي برید په اړه خپلې اندیښنې له امریکا یي مشرانو سره شریکې کړې اویوځل بیا یې له امریکا یي لوري غوښتنه وکړه، څوله افغانستان سره نظامي مرستې وکړي. همدارنګه نوموړي په سیټو چې پاکستان، ایران، ترکیه او عراق یې غړي وو او دبغداد په تړون کې دګډون لپاره خپله علاقه مندي ښودلې وه.دامریکا دبهرنیو چارو وزارت دافغان لوري غوښتنې له دې امله چې شوروي اتحاد اوپاکستان به یې پروړاندې غبرګون وښيي رد کړې.

واشنګټن په دې شکمن و، چې آیا دابه عاقلانه وي څو افغانستان په یادو نظامي تړونونو کې داخل کړي او یا ورته نظامي مرستې ورکړي، په داسې حال کې چې پاکستان ددواړو یادو اتحادونو غړیتوب درلود.

په ۱۹۵۵ زیږدیزکال کې یو ځل بیا دواشنګټن په اندیښنو کې هغه مهال زیاتوالی راغی، چې افغانستان دپاکستان دیویونیټ پالیسۍ پروړاندې تونـد غبرګون وښود.دپاکستان دیادې پریکړې په غبرګون کې افغان لاریون کونکو په کابل کې دپاکستان پرسفارت اوپه جلال آباداو قندهار کې ددغه هیواد پرقونسلګریو بریدونه وکړل، په ځواب کې پاکستان له افغانستان سره خپله پوله وتړله اودافغانستان په سوداګریزو توکو یې بندیزونه ولګول، دپاکستان دبندیزونو له امله په

واشنګټن کې دامريکايي مشرانو انديښنې مخ په زياتيدو شوې، د واشنګټن ستره انديښنه شوروي ته دافغانستان دنږدې کيدو په اړه وه. تريوې مودې وروسته او دخبرو په پايله کې دکابل اوکراچۍ ترمنځ اړيکو بيرته عادي بڼه غوره کړه، دافغانستان اوپاکستان ترمنځ ستونزو په سيمه کې دشوروي اتحاد داغيزې له پراختيا سره مرسته وکړه، د۱۹۵۵ زيږديز کال په ډسمبر کې دشوروي مشران نيکتاخروچف اونيکولاى بولګانين کابل ته راغلل، دوى په کابل کې له افغان حکومت سره دنظامي مرستو ترڅنګ له افغانستان سره ۱۰۰ ميليونه ډالره مرسته اعلان کړه. شوروي مشرانو له افغانستان سره خپلې مرستې دپښتونستان په اړه دافغانستان دريځ ته په کتو سره اعلان کړې، په همدې مهال په کابل کې دامريکا دمتحدوايالتونو سفير دې پايلې ته رسيدلى و، چې افغانستان په اقتصادي برخه کې په بشپړه توګه دشوروي مرستو ته اړدى په دې توګه شوروي اتحاد هڅه کوله څو په جنوبي آسيا کې دامريکاګټې او اغيز وځاري.
دايزنهاور اداره چمتو نه وه، څو په افغانستان کې خپلې ګټې له لاسه ورکړي له همدې امله يې پرپاکستان فشار راوړ، څوله افغانستان سره خبرې وکړي، دامريکا متحدوايالتونوغوښتل څوافغانستان دشوروي اتحاد له اغيزې او ادارې نه بهرکړي.افغانستان دنظامي مرستو ترڅنګ له شوروي نه پراخه اقتصادي مرستې هم ترلاسه کولې.
داوود خان په افغانستان کې دشوروي اتحاد داغيزې او نفوذ له زياتيدو سره ډيره مرسته وکړه، نوموړي اعلان کړې وه، چې دټرانزيټ مسله دافغانستان لپاره دويمه درجه اهميت لري اوترهغې پورې به حل نه شي څوپورې چې دپښتونستان سياسي مسله حل شوي نه وي.مګر په

پای کې نو موړی په دې سلا شو څو د امریکا وړاندیزونو ته غوږ کیږدي او په افغانستان کې د لویو لارو جوړولو لپاره د امریکا اقتصادي مرستې ترلاسه کړي.

پاکستان او د امریکا متحدو ایالتونو په تکراري توګه هڅې کولې څو له کابل سره خپلې اړیکې سمې کړي هغوی غوښتل څو افغانستان د شوروي له اغیزنه بهر کړي او له آزادې نړۍ سره یې نږدې کړي، مګر د پښتونستان پر سر اختلافونو او لانجې له امریکا او پاکستان سره د افغانستان د دوستانه اړیکو د منځ ته راتللو مخه ونیوله

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ډالس داوود خان نه خوښاوه او د هغه د سقوط په اړه اندیښمن و، نوموړي داوود خان شوروي پلوه ګاڼه او د امریکا له حکومت نه یې غوښتنه کوله، څو د افغانستان په پاچا باندې فشار راوړي چې داوود له دندې ګوښه کړي په واشنګټن کې د داوود خان په اړه دا ډول دریځ د امریکا د سفیر وارډ په وسیله منځ ته راغلی و، وارډ هغه مهال چې جنرال قونسل و، دیو شمیر چینایانو لخوا یرغمل شوی و، وارډ په دې شکمن و چې داوود خان په پټه په دې پیښه کې ښکیل و. وارډ د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې د داوود خان په اړه د توند او دوښمنانه نظر په رامنځ ته کولو کې مهم رول ترسره کړی و. وارډ وروسته د خپل نیول کیدو او د داوود خان په اړه خپل نظر بدل کړ، نوموړي هڅه کوله څو د داوود خان په اړه د بهرنیو چارو وزارت په نظر کې بدلون راولي مګر نوره نو ډیره ناوخته شوې وه.

امریکایي پالیسي جوړونکو فکر کاوه، چې له افغانستان سره د شوروي اقتصادي او نظامي مرستو او افغانستان ته د شوروي مشرانو سفرونو په پوره توګه دا ثابتوله، چې افغانستان د شوروي اتحاد تر بشپړې

اغیزې لاندې راغلی، که څه هم افغان مشرانو په ښکاره دا څرګندوله چې افغانستان به هیڅکله د چا تر اغیزې لاندې را نه شي، دا هغه څه و چې وروسته رښتیني ثابت شول.

په ۱۹۵۲ زیږدیز کال کې کله چې د امریکا د متحدو ایالتونو د ملي امنیت شورا د افغانستان په اړه بحث کاوه، نو ولسمشر ایزنهاور وویل" داوسنی نړۍ له تمایلاتو نه یو هم نشنلزم دی، کوم چې د افغانستان لپاره چې خپل ملي هویت له لاسه ورکوي ډېر مهم دی " په دې توګه امریکایانو د نشنلزم او د اسلام دین له کارولو نه ګټه پورته کړه، څکه امریکایانو نه شو کولای څو د اقتصادي مرستو له لارې په افغانستان کې له شوروي سره سیالي وکړي.

کابل د ایزنهاور د دوکتورینو هرکلی وکړ، د امریکا متحدو ایالتونو په نړیواله کچه د کمونیزم د محدودولو پالیسي را منځ ته کړه، افغانستان د امریکا د پالیسی هرکلی وکړ، مګر سره د دې یې خپله د بې طرفۍ دودیزه پالیسي تعقیب کړه. په همدې مهال افغانستان هیله مند و، څو د امریکا له متحدو ایالتونو سره خپلو اړیکو ته پراختیا ورکړي. د شوروي اتحاد لور ته تمایل ښودل.

افغانستان د یو حایل دولت په توګه خپلې د بې طرفۍ پالیسۍ ته دوام ورکړ، د همدې پالیسۍ له مخې افغانستان نه شو کولای څو د سترو قدرتونو قلمرو ته نږدې شي او یا په نظامي تړونونو کې ګډون وکړي. د سړې جګړې له امله کابل په دې وتوانیده څوله دواړو سترو قدرتونو نه یو بیلیون امریکایي ډالره اقتصادي مرسته تر لاسه کړي.

شورویانو او امریکایانو دواړو د افغانستان لویې لارې چې د دغه هېواد مهم ښارونه یې له یو بل سره نښلول جوړې کړې، شوروي اتحاد په

نظامي اودکرنې په برخو کې له افغانستان سره پراخې مرستې وکړې. په زرګونو افغان نظامي افسرانو په شوروي اتحاد او په سل ګونو د امریکا په متحدو ایالتونو کې نظامي زده کړې ترسره کړې.
دامریکا متحدو ایالتونو دکرنې، بیوروکراسۍ او تعلیم په برخو کې له افغانستان سره دپام وړ مرستې وکړې، امریکایانو دخپلې پالیسۍ له مخې په سیمه ییزسیاست کې دعلاقې ښودلو نه ډډه کوله، دغه پالیسي دامریکا دبهرنیو چارو وزارت له هغه رپوټ نه څرګندیږي چې په کې راغلي و "افغانان باید دشوروي اتحاد پروړاندې په خپلو خبروا وکړنو کې له پوره هوښیارۍ نه کار واخلي، ځکه امریکایان نه شي کولای خود امنیت او اقتصادي پرمختګ په برخو کې دافغانستان غوښتنې پوره کړي".
دامریکا په بهرنۍ پالیسۍ کې دغه بدلون د۱۹۵۰ لسیزې په وروستیو کې منځ ته راغی، داهغه مهال و، چې امریکا غوښتل څوله شوروي اتحاد، بې طرفو هېوادونو او له خپلو متحدینو سره په خپلو اړیکو کې انعطاف پذیري رامنځ ته کړي.
د ۱۹۵۹ زیږدیزکال په جون کې داوود خان په یوه رسمي سفر دامریکا متحدو ایالتونو ته ولاړ، نوموړي یوځل بیا ددواړو هېوادونو ترمنځ ددوستانه اړیکو درامنځ کولو په اړه خپله غوښتنه تکرار کړه.
د ۱۹۵۹ زیږدیزکال په جون کې دامریکا ولسمشر ایزنهاور جنوبي آسیا ته دسفر پر مهال له کابل نه هم لیدنه وکړه، داچې افغانستان دامریکا دملاتړو نظامي اتحادیو غړیتوب نه درلوده، نوځکه هغه مهال له کابل نه دولسمشر ایزنهاور کتنه مهمه ګڼل کیده، ولسمشر ایزنهاور دخپل سفر پر مهال دکابل هوایي ډګر جوړولو په موخه افغان حکومت ته د۱۰

میلیونو امریکایي ډالرو پور ورکول هم اعلان کړل.
هغه مهال دافغانستان پروړاندې دامریکا دپالیسۍ مهمه برخه داوه، څوافغانستان خپله خپلواکي وساتي او دشوروي اتحاد له اغیزې نه بهر لرې پاتې شي. وروستي خپاره شوي اسناد داپه ډاګه کوي، چې افغانستان په رښتیني توګه هڅې کولې څودامریکا له متحدو ایالتونو نه مرستې ترلاسه کړي مګر امریکایان افغانستان ته دنظامي مرستو دورکولو په اړه زړه نازړه وو. دافغانستان پروړاندې دامریکا پرپالیسۍ باندې پاکستان خورا مهم اغیزدرلود، پاکستان دسینټو اوسیټو تړونونو غړیتوب درلود، له بل لوري دپښتونستان مسلې حالات نور هم پسې خرابول. له همدې امله امریکا په دې اړه دافغانانو غوښتنو ته اهمیت نه ورکاوه، افغانستان ته دنظامي مرستو نه ورکولو بل دلیل دشوروي داحتمالي غبرګون په اړه دواشنګټن ویره وه، امریکایان ویریدل چې افغانستان ته دنظامي مرستو ورکول به دشوروي غوصه او غبرګون راوپاروي.
په ۱۹۲۰لسیزه کې دسړې جګړې دو سیالانو له افغانستان سره خپلو اقتصادي مرستو ته دوام ورکړ.افغانستان په حقیقت کې دمنځنۍ آسیا په فنلینډ بدل شوی و، افغانستان یو غیرکمونیست دولت و، مګر دخپل کمونیست ګاونډي امنیتي اندیښنولپاره خورا مهم ګڼل کیده.
دکنیډي دولسمشرۍ پرمهال دافغانستان اوپاکستان ترمنځ ناندریو او اختلافونو دوام درلود.افغانستان له پاکستان سره خپلې پولې تړلې وې، په همدې مهال دافغانستان دبهرنیو چارو وزیرسردار نعیم دامریکا په متحدو ایالتونو کې و، نوموړي دافغانستان او ایران ترمنځ دلویې لارې جوړولو لپاره له امریکایانو نه دمرستې اوپور غوښتنه وکړه، ددې

لویې لارې په جوړیدو سره به په شوروي باندې د افغانستان تکیه کول کمیدل، ولسمشر کینډي نه یوازې دا چې د افغانستان غوښتنه یې رد کړه بلکې ددې ترڅنګ یې له افغان لوري نه وغوښتل څوله پاکستان سره خپلې ستونزې حل کړي.

دایران پاچا چې په سیمه کې دواشنګټن نږدې ملګری و، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو په عادي کولو کې یې مهم رول ترسره کړ، دولسمشر کنیډي شخصي مداخلې هم ددواړو لورو ترمنځ د شخړو په حل کې مهم رول درلوده، ولسمشر کنیډي د افغانستان له پاچا محمد ظاهرشاه نه غوښتي و، څو په خپل دریځ کې نرموالی رامنځ ته کړي او له پاکستان سره سوداګري بیا له سره پیل کړي.

په ۱۹۵۴ زیږدیز کال کې د افغانستان د نوي اساسي قانون له تصویب وروسته محمد داوود خان له حکومت نه وویستل شو، ځکه د همدې نوي قانون له مخې په شاهي کورنۍ پورې تړلو اشخاصو نه شو کولای څو په سیاسي واک کې برخه ولري.

په همدې ه ـال شوروي اتحاد د خپلو بېلابېلو پروژو له لارې په تدریجي توګه په افغانستان کې د خپلې اغیزې او نفوذ د دیاتیدو په هڅه کې و، په افغانستان کې سیاسي آزادۍ، د کوچنیو سیاسي کمونیستي ګوندونو رامنځ ته کیدلو لپاره زمینه برابره کړه. د امریکا متحدو ایالتونو چې تل یې د ډیموکراسۍ او آزادۍ ملاتړ کړی و، د محمد ظاهرشاه له ډیموکراتیکو سیاسي اصلاحاتو نه ملاتړ ونه کړ.

په ۱۹۷۰ لسیزه کې واشنګټن او مسکو د ((Détente کړکیچ کمولو پالیسۍ رامنځ ته کړه، چې له مخې یې ددواړو سترو ځواکونو ترمنځ په کړکیچ او اختلافونو کې کموالی راغی، د امریکا

متحدو ایالتونو سیمې ته په خپلو مرستو کې کموالی راوست د امریکا متحدو ایالتونو د افغانستان په وړاندې خپلې د ۱۹۵۵ زیږدیز کال پالیسۍ ته مخه کړه، نیومن چې له ۱۹۶۷ نه تر ۱۹۷۳ زیږدیز کال پورې په افغانستان کې د امریکا سفیر و، نوموړي د امریکا متحدو ایالتونو ته په ډاګه کړې وه، چې په اوس وخت کې امریکا په افغانستان کې مستقیمې ګټې نه لري، افغانستان د امریکا لپاره یو مهم سوداګریز شریک نه دی او هلته هیڅ ډول تړونونه او دفاعي ژمنې شتون نه لري دا چې افغانستان د منځنۍ آسیا او د هند د سمندرګي په ګاونډ کې پروت و، نو له همدې امله یې د امریکا متحدو ایالتونو لپاره ستراتیژیک اهمیت درلود.

# په افغانستان کې دپاچاهۍ پای

شوروي اتحاد ته دافغانستان نږدې کیدو مسولیت دامریکا دمتحدو ایالتونو پرغاړه دی، شوروي له ۱۹۵۵ نه تر ۱۹۷۵ زیږدیز کال پورې له افغانستان سره د۵۵۲ میلیونو امریکایي ډالرو مرسته کړې وه، په داسې حال کې چې په همدې موده کې له افغانستان سره دامریکا دمرستو اندازه ۳۵۰ میلیونو ډالرو ته رسیدله دشوروي اتحاد دمرستو پروګرامونو په افغانستان کې دشوروي اتحاد داغیزې له زیاتیدو سره مرسته وکړه.
ددې ترڅنګ یادو مرستو دافغانانو دفکر په بدلیدو باندې چې له کمونیزم نه اغیزمن شوي وو، هم خورا مهم اغیز درلود، په ۱۹۷۵ زیږدیز کال کې همدې شوروي پلوه خلکو دنورمحمد ترکي په مشرۍ دافغانستان دخلق ډیموکراتیک ګوند جوړ کړ.
همدې ګوند په ۱۹۷۳ زیږدیز کال کې دنظامي کودتا له لارې سیاسي واک ته د داوود خان په رسولو او دمحمد ظاهرشاه دپاچاهۍ په پای ته رسولو کې ډیر مهم رول ترسره کړ. داوود خان دافغانستان ولسمشر شو او په افغانستان کې یې دپاچاهۍ پرځای جمهوري نظام اعلان

کړ.واک ته د داوود خان له رسیدو سره سم د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې یو ځل بیا خرابې شوې.
کابل یو ځل بیا د پښتونستان مسله راپورته کړه، له بلوچو بېلتون غوښتونکو سره یې دوسلو او پیسو مرستې پیل کړې، په ځواب کې د پاکستان لومړي وزیر ذوالفقارعلي بوټو د داوود خان ضد عناصرو ته په خپله خاور کې پناه ورکړه، د اسلامي حرکت د ملاتړ په موخه یو افغان مرکز جوړ کړای شو، چې بیا وروسته همدغه ډلې د شوروي ځواکونو پر ضد جنګیدلې.
د کړکیچ کمولو (Détente) پالیسۍ له مخې د داوود خان کودتا پروړاندې د امریکا د متحدو ایالتونو غبرګون ډېر تونده نه و، ولسمشر نیکسون د افغانستان په کورنیو چارو کې له ښکیل کېدو سره مخالف و، د امریکا د غبرګون نه ښودلو بل دلیل د منځني ختیځ له مسایلو سره د ولسمشر نیکسون علاقه مندي وه، نوموړي غوښتل ځو په منځني ختیځ کې حالات په سمه توګه پر مختګ وکړي، همدارنګه نوموړي غوښتل ځو د ستراتیژیکو وسلو محدودولو خبرو له لارې اختلافونه راکم کړي، د دې خبرو موخه د اتومي وسلو پر سرد سیالیو څېړل و.
په ۱۹۷۴ زېږدیز کال کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هنري کسینجر افغانستان ته راغی، نوموړي له داوود خان سره د جنوبي آسیا، د کړکیچ کمولو (Détente) پالیسۍ او دیوې باثباته او سوله ییزې نړۍ لپاره د دوه اړخیزو اړیکو پر اهمیت خبرې وکړې. همدارنګه کسینجر په داوود خان فشار راوړ، څو د امریکا له متحدو ایالتونو او نورو لویدیځو هېوادونو سره د دوستانه اړیکو د پراختیا په موخه خپله د بې طرفۍ د ودیزه پالیسي تعقیب کړي. د دې ترڅنګ کسینجر د منځني ختیځ هېوادونه

وهڅول څوله افغانستان سره مرسته وکړي.د ایران پاچا دامریکا دهغو هڅواومالي مرستو چې موخه یې له شوروي اتحاد نه د داوود خان لرې ساتل و ملاتړ وکړ.

دولسمشر کارتر دولسمشرۍ پرمهال هم ددواړو لوروترمنځ دوستانه اړیکې دپخوا په شان موجودې وې، که څه هم امریکایي خصوصي سکتوردلومړنیوآسانتیاوو دنشتوالي اودافغانستان دلرې والي له امله په دغه هېواد کې دپانګې اچونې په اړه زړه نازړه و،دامریکایانو دکم علاقې والي بل دلیل په افغانستان کې دشورویانونښکاره شتون و.

داوود خان دامریکا نوې پالیسي منلې وه،ځکه نوموړی چپي نه بلکې په پوره معنی یونشنلیستې و،داوودخان دخپل حکومت پر وروستي کال په خپله پالیسۍ کې دپام وړ بدلون راوست،نوموړي غوښتل څو پرمسکو باندې خپله امنیتي تکیه راکمه کړي اودخپل حکومت له ادارو نه دچپیانو اوکمونیستانو په لرې کولو سره دهغوی سیاسي اغیزمحدود کړي.

نوموړي د۱۹۷۸ زیږدیزکال په اوړي کې له واشنګټن نه درسمي کتنې په موخه دامریکادعوت منلی و،مګر دنوموړي دغه سفر هیڅکله ترسره نه شوه.

دشوروي اتحاد دکمونیست ګوند عمومي مشر برژنیف داوود خان ماسکو ته وروغوښت،څوخپل دریځ روښانه کړي.ددې ترڅنګ برژنیف له نوموړي وغوښتل چې دخپلو امریکایي پلوه مشاورینو په لرې کولو سره په افغانستان کې دامریکاداغیززیاتیدو مخه ونیسي.مګر داوود خان دبرژنیف دغه وړاندیز ردکړ،نوموړي څرګنده کړه چې " دافغانستان خلک به خپل برخلیک په خپله ټاکي اوهیڅ بهرنی هېواد

ددې حق نه لري، ځو هغوی ته ووايي چې خپلې چارې څه ډول پرمخ بوځي".
بې له شکه ماسکو له داوود خان نه مايوسه شوی و، په همدې مهال دخلق ډيموکراتيک ګونددوه برخې، چې په ۱۹۷۲ زیږدیزکال کې له یوبل نه جلا شوې وې، اوس یوځل بیا د داوود خان دلویدیځ پلوه پالیسیو پر وړاندې سره يوځای شوې. دمير اكبر خيبر وژل کیدو حالت نور هم پسې خراب کړ، دنو مو ړي دخښنولو مراسمو پرمهال ستر امریکایي ضد لاریونونه ترسره شول، داوود دکمونیست ګوند ټول مهم سیاسي مشران ونيول، مګر نو موړي په اردو کې دکمونیست افسرانو اومشرانو په ساتلو سره ستره تيروتنه ترسره کړه، هغوی چې وروسته يې له واکه دنو موړي په لرې کولو کې خورا مهم رول ترسره کړ.
دافغانستان پروړاندې دامریکا دمتحدو ایالتونو په پالیسۍ کې کوم بدلون رامنځ ته نه شو، دمحمد ظاهر شاه اوسردار داوود خان دواکمنيو پرمهال په کابل کې دامریکا دسفارت له لوري دبهرنيو چارو وزارت ته هر کال دپالیسۍ دبيا كتنې راپور دافغانستان دجغرافيايي موقعیت اوستراتيژيک اهمیت په اړه دیو لړ وړاندیزونو اوبدلونونو سره استول کیده، د۱۹۷۸زیږدیزکال په اپریل کې ترکمونیستي کودتا پورې دافغانستان پروړاندې دامریکا دمتحدوایالتونو پالیسي بې له کوم بدلون نه ثابته پاتې شوه.

# د شوروي تېري او پایلې یې

د ۱۹۷۸ زیږدیز کال د اپریل په ۲۷ مه سردار داوود خان له خپلې کورنۍ سره یوځای په یوه خونړۍ کودتا کې ووژل شو، د همدې کودتا په پایله کې کمونیستان واک ته ورسیدل، نورمحمد ترکی د افغانستان نوی ولسمشر شو او جمهوریت اعلان شو.
د امریکا متحدو ایالتونو په افغانستان کې د کمونیستي کودتا پروړاندې هیڅ ډول غبرګون ونه ښود او په دې خونړۍ کودتا کې یې د کمونیستانو رول او کړنې له پامه وغورځولې. د واشنګټن غفلت او بې تفاوتي د امریکا د بهرنیو چارو دوزارت له هغه راپور نه څرګندیږي چې د ۱۹۷۸ زیږدیز کال د مارچ په ۲۲ لیکل شوی و، په راپور کې راغلي و، چې "په افغانستان کې سیاسي حالت باثباته او ډاډمن دی، ولسمشر داوود په چارو بشپړ کنټرول لري او له کوم مهم مخالفت سره مخامخ نه دی".
تر کودتا وروسته واشنګټن ډیر نرم غبرګون وښود، د واشنګټن دا ډول

نرم غبرګون په ویتنام کې د ماتې خوړلو او د واټرګیټ د رسوایۍ له امله و، د کارتر اداري په کابل کې بدلون د منځني ختیځ کودتاوو ته ورته یوه کودتا وګڼله نه سیاسي واک ته د کمونیستانو رسیدل. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر سایروس وانس په کودتا کې د شوروي د ښکیلتیا په اړه هیڅ ډول اسناد پیدا نه شول کړای، مګر په دې اړه د شک کولو لپاره کافي دلایل موجود وو.

شوروي اتحاد په کودتا کې هر ډول لاس لرل او ښکیلتیا رد کړه، برژنیف ولسمشر کارتر ته وویل، چې د لومړي ځل لپاره شورویان د کابل راډیو له لارې د کودتا په اړه خبر شول او دوی هیڅوک کودتا کولو ته نه دي هڅولي.

نوي افغان حکومت اعلان وکړ، چې ناپېیلي او غیر کمونیست دی واشنګټن هم دغه ادعا ومنله، په کابل کې د امریکا سفیر او د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت نوی افغان حکومت ملي ګڼلی و، نه کمونیست. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې خپل سفارت ته لارښوونه کړې وه، چې کیدای شي د دوی لپاره یوه لاره په افغانستان کې د امریکایي فعالیتونو د روڼولو وسې. مګر د اکار به له یوه لوري د افغانستان او د هغه د ګاونډیانو اندیښنې راوپاروي او له بل لوري د دوی له پالیسیو سره په ټکر کې دي. نوي افغان رژیم د امریکا د متحدو ایالتونو دښتون په اړه د دغه هېواد پالیسي منلې وې.

ټول امریکایان د خپل حکومت له تګلارې او د افغانستان په اړه د خپلو حکومتي چارواکو له بیانونو سره موافق نه وو. پخواني سفیر نیومن د بهرنیو چارو وزارت ته وویل، چې دی نوي افغان مشران له کلونو راهیسې پیژني، هغوی کمونیستان دي او هغوی به ټولې چارې

د مسکو له غوښتنو سره سمې پرمخ بوځي.نیومن د نورو چارواکو له خوشبینانه نظرونو سره چې د نوي کمونیست رژیم په اړه یې لرل موافق نه و.

د امریکا نوې پالیسۍ شوروي اتحاد ته چې په سیمه کې یې د امریکا اولویدیځ داغیز کمیدل غوښتل مناسب فرصت او وخت په لاس ورکړ،لږه موده وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خپله تیروتنه ومنله او په پاکستان کې د میشتو افغان اسلامي ډلو ملاتړیې پیل کړ.امریکا ومنله چې شوروي اتحادته د سیمې پریښودل،د دوی له ګټو سره په ټکر کې ده.

ماسکو له منځ ته راغلي فرصت نه د ګټې اخیستلو په لټه کې شو، شوروي کارپوهانو د امنیتي او استخباراتي برخو په ګډون د افغان حکومت ټولې مهمې برخې ونیولې.

له بل لوري واشنګټن له افغانستان سره خپلو اقتصادي مرستو ته دوام ورکړ،د ۱۹۷۹ زیږدیز کال په فبرورۍ کې په کابل کې د امریکا د سفیرادلف ډابس تر وژل کیدو وروسته امریکا له افغانستان سره خپلې اقتصادي مرستې ودرولې.ډابس د شوروي چارو کارپوه و،نوموړی د دې لپاره ټاکل شوی و،څو د کمونیزم ضد ډلو ملاتړ وکړي،نوموړی د حکومت ضد یوې ډلې لخوا یرغمل کړای شو،وروسته د خلاصون د عملیاتو پرمهال د پولیسو لخوا په ډزو کې ووژل شو. پولیسو د امریکایي ډیپلوماتانو هغه ادعا،چې ګواکي پولیسو نه غوښتل څو له تښتونکو سره د نیومن د خلاصون پر سر معامله وکړي رد کړه،د خلاصون عملیاتو پر مهال تښتونکي هم ووژل شول.

د امریکا حکومت د خلاصون عملیاتو پرمهال د هغو میتودونو چې

پولیسو ورځخه ګټه پورته کړې وه او دپیښې په ځای کې د شوروي مشاورینو د شتون له امله توندې نیوکې وکړې.
ولسمشر جیمي کارتر په افغان حکومت خپلې مرستې بندې کړې او دپاکستان دنظامي حکومت له لارې یې په دغه هېواد کې میشتو افغان اسلامي ډلو سره په خپلو مرستو کې زیاتوالی راوست. د امریکا استخباراتي ادارې سي آی اې د پاکستان د استخباراتي ادارې آی ایس آی په مرسته د افغانستان د مقاومت له هغو ډلو سره چې د کمونیست رژیم د غلطو او بدنامو پالیسو په غبرګون کې منځ ته راغلې وې، خپلو مرستو ته دوام ورکړ.
له شوروي اتحاد سره د مستقیم اتحاد په پایله کې ترکي د افغانستان اوږده دودیزه بې طرفي تر پښو لاندې کړه، نوي حکومت غوښتل چې په کوردننه د ځمکې د پراخو اصلاحاتو له لارې ټولنیز انقلاب او بدلون رامنځ ته کړي، نوي اصلاحات د عامو خلکو له تونډ غبرګون او مقاومت سره مخ شول.
حکومت د خلکو پر وړاندې له زور او ځواک نه ګټه پورته کړه، جګړې پیل شوې، کمونیست ګوند په دو برخو خلق او پرچم باندې وویشل شو، حفیظ الله امین د خلق او ترکي د پرچم مشري پر غاړه درلوده.
د ثور کودتا د لومړنۍ کلیزې پر مهال په هرات ولایت کې په ناڅاپي توګه پاڅون وشو، حکومت په ډېره ظالمانه او وحشیانه توګه دغه پاڅون لمنځه یوړ. په ډېرو ولایتونو کې د حکومت پر وړاندې کرکه خپره شوه، په دې مقاومت کې د امریکا متحدو ایالتونو د هغو اسلامي او قومي ډلو ملاتړ وکړ، چې له لاریون کونکو سره یو ځای شوې وې.
ترکي د پاڅون کونکو د ځپلو په موخه له شوروي اتحاد نه د مرستې

غوښتنه وکړه، مګر شوروي ددې غوښتنې په ردولو سره افغان لوري ته ویلي و، چې د شوروي مداخله به د شوروي او افغان حکومت ددوښمنانو په ګټه تمامه شي.
شوروي له مستقیمې مداخلې نه څکه ډډه وکړه، چې په دې توګه امریکایانو ددې فرصت ترلاسه کاوه، څو د شوروي په پراختیا غوښتونکې پالیسۍ باندې دناورین پړه ورواچوي. د شوروي د نه مداخلې بل دلیل په حفیظ الله امین باندې، چې ترکي نه یې خپل لاس پوځي جوړ کړي و د باور نه لرل و.
ترکي غوښتل چې امین ووژني مګر بریالی نه شو، په مقابل کې امین ترکی بندي کړ او بیا وروسته ترکی ووژل شو، د ترکي وژل کېدو شوروي مشران په ځانګړي توګه برژنیف زیات په غوصه کړ، کله چې برژنیف د ترکي له وژل کېدو خبر شو، نو یې له سترګو اوښکې توی شوې، برژنیف په دې باور چې پرمخ به یې څپېړه خوړلې او دی باید د دې څپېړې ځواب ووایي.
برژنیف دامین د څپېړې ځواب د ۱۹۷۹ زیږدیز کال په ډسمبر کې په افغانستان باندې په تېري کولو ورکړ.
حفیظ الله امین سیاسي واک په لاس کې واخیست مګر د امریکا متحدو ایالتونو په نوموړي باور نه درلوده، له همدې امله یې نه د نوموړي سیاسي ملاتړ وکړ او نه یې ورته اقتصادي مرستې ورکړې. امین هڅه کوله څو د امریکایانو باور ترلاسه کړي او د منځ ته راغلي ستونزمن حالت لپاره د شوروي له ښکیلتیا پرته یو حل پیدا کړي. امریکایانو د ډابس دوژنې پرمهال د امین د سپکونکي برخورد له امله نه هغه خوښاوه او نه یې پرې باور کاوه، امین د ډابس د مړینې

پرمهال دنوموړي لپاره دخواخوږۍ کتاب لاسلیک کړی نه و اونه یې دکابل په هوایي ډګرکې په هغومراسموکې ګډون کړی و، چې دډابس دمړي دلیږدولو لپاره نیول شوي و.

کې جي بي په امین تورپورې کړی و، چې دافغانستان اوشوروي اتحاد داړیکو خرابولو هڅې کوي اوپه خپلولوبدیځ پلوه پالیسو سره دامریکا دخوشحالولو په لټه کې دی.مګر امریکایي ډیپلوماتانو دا ټول عادي چارې ګڼلې.

امریکایانو دافغانستان پولو ته دشوروي ځواکونوراټولیدل او دوسلو ځای پرځای کول له پامه غورځولي و، دامریکا استخباراتي ادارو په افغانستان باندې دشوروي داحتمالي برید په اړه واشنګټن ته راپورونه استولي وو، مګرپه واشنګټن کې چارواکي له یادوراپورونو سره موافق نه وو.

دامریکا له متحدوایالتونونه ترمایوسه کیدو وروسته حفیظ الله امین غوښتل، څودپاکستان او ایران ملاترترلاسه کړي ولې نورنو ډیره ناوخته شوې وه اوشوروي اتحادد ۱۹۷۹ زیږدیزکال دډسمبرپه ۲۷ مه په افغانستان تیری وکړ، چې په پایله کې یې دسیمې جیوستراتیژیک حالت په بشپړ ډول بدل شو.شوروي ځواکونو امین وواژه اوپرځای یې دپرچم ډلې مشر ببرک کارمل واک ته ورساوه.

په افغانستان باندې تیری له دویمې نړیوالې جګړې وروسته دشوروي لخوا دلومړي ځل لپاره دیوناپیلي هېواد اشغال و، دافغانستان اشغال دبرژنیف ددوکتورینو پلي کول و، دکوموله مخې چې کله به یو هېواد دسوسیالیزم بلاک ته داخل شو، بیا یې بیرته دوتلو اجازه نه درلوده.دې مسلې دنړیوال سیاست مهمه برخه جوړوله

دامریکا متحدو ایالتونوچې په افغانستان کې یې د کمونیست رژیم منځ ته راتلل له پامه غورځولي و، په ناڅاپي توګه یې خطر احساس کړ، دشوروي لخوا دافغانستان داشغال په غبرګون کې ولسمشر کارتر دکارتر دوکتورین رامنځ ته کړل، چې له مخې یې جنوبي آسیا دلوېدیځ دامنیت لپاره دریم امنیتي زون ګڼل شوی و.نوموړي دافغانستان اشغال له دویمې نړیوالې جګړې وروسته دنړۍ دسولې او امنیت لپاره ترټولو ستر تهدید ګڼلی و، شوروي اتحاد ته دګواښ کولو پرمهال نوموړي اعلان وکړچې "دهربهرني ځواک لخوا په فارس خلیج باندې دکنټرول حاصلولو هڅې به دامریکا دمتحدو ایالتونو دملي ګټو پرضد عمل وګڼل شي اودې ډول ګواښ پروړاندې به دنظامي ځواک کارولو تربریده، هرډول ممکنه ځواب وویل شي".

ولسمشر کارترله برژنیف نه غوښتنه وکړه، چې یا دې له افغانستان نه خپل ځواکونه وباسي اویادې دخپل تیري جدي پایلو کتلو ته منتظروسي. ولسمشر کارترپه مسکو کې جوړېدونکوالمپیک لوبو کې ګډون لغوه اعلان کړاوله شوروي اتحاد سره یې دسالټ۲ خبرې وځنډولې، نوموړي په شوروي باندې دنوې ټکنالوژۍ او غنمو پلورل بند کړل، په امریکایي اوبو کې دشوروي کب نیوکولخوا دکبانوپه نیولو باندې بندیزولګول شو ،له شوروي سره ډیپلوماتیکې اړیکې وځنډول شوې، سفیرټوماس واټسن له ماسکونه بیرته واشنګټن ته وغوښتل شو ،دکارتر اداري دشوروي پرضد له نظامي برید پرته نورې هرډول ممکنه وسیلې وکارولې.

امریکایي وګړو اورسنیوته چې دکریس میس په لمانځلو بوخت وو، په افغانستان باندې دشوروي تیري سخت ټکان ورکړ

او د خپلو استخباراتي ادارو د غفلت او ناتوانۍ په اړه یې جدي پوښتنې راپورته کړې. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، ولسمشر کارتر او نورتېول لوړپوړي چارواکي د دې ډول حالت د منځ ته راتللو له امله حیران وو، ځکه هغوی د کړکیچ کمولو (détente) پالیسۍ له پرمخ وړلو سره علاقه مندي درلوده، کومه چې یوه ناکامه هڅه ثابته شوه. په مقابل کې له ټولو تړونونو د شوروي موخه داوه، څو په نړیواله کچه یو پیاوړی او برلاسي سترځواک پاتې شي.

د شوروي له لوري د تهدید نه د رکولو بل دلیل د شوروي اتحاد پروړاندې د کارتر د بهرنۍ پالیسۍ د مشاورینو وانس او برژنسکي مختلف نظرونه وو، دواړو د شوروي اتحاد په اړه مختلف نظرونه او معلومات وړاندې کول له همدې امله د ولسمشر کارتر لپاره دا ډېره ستونزمنه وه، څو وپوهېږي چې د کوم یو نظر سم دی، ځکه دواړه د بهرني سیاست پوهان وو.

د برژنسکي باور سم و، مګر د بهرنیو چارو وزیر وانس زړه نازړه و، نوموړي نه غوښتل د پوره او کافي اسنادو له شتون پرته د امریکا او شوروي ترمنځ اړیکې خرابې کړي.

آسیایي هېوادونو هم په افغانستان باندې د شوروي تیری وغانده، د دوی وېره داوه چې شوروي اتحاد ګرمو اوبو او د فارس خلیج د تیلو زیرمو ته د ځان رسولو په هڅه کې و. اسلامي نړۍ او ناپېیلیو هېوادونو هم په افغانستان باندې د شوروي تیری وغانده. ملګرو ملتونو سازمان د شوروي پرضد خپل پریکړه لیک صادر کړ، کوم چې په امنیت شورا کې د شوروي اتحاد لخوا ویټو شو.

د ۱۹۸۰ زیږدیز کال د جنورۍ په ۱۴ مه د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ

دشوروی پرضد خپل پریکړه لیک په ۱۰۴ موافقو او ۱۸ مخالفو رایو تصویب کړ. په پریکړه لیک کې له شوروي ځواکونو غوښتنه شوې وه، چې په چټکۍ سره، بې له قید او شرطه، په بشپړه توګه له افغانستان نه ووځي او افغانان پرېږدي څو خپل راتلونکی په خپله خوښه وټاکي.
ترټولو بد او بحراني حالت دافغانستان دننه و، دخلق ډیموکراتیک ګوند د حکومت ساتلو په موخه افغانستان ته دشوروي ځواکونو ننوتلو سره دمقاومت ډلې په سترو جهادي ډلو بدلې شوې، په دې بدل شوي حالت کې دافغانانو ترمنځ کورنۍ جګړه دکمونیست سترځواک پروړاندې دآزادۍ پرجګړې بدله شوه. کابل د دوښمنیو، بریدونو، لاریونونو، ورانیو، وژنو او بمباریو په میدان بدل شو، د افغانستان د خلکو یو پر دریمه برخه اړشول، چې خپل هېواد پرېږدي او ایران او پاکستان ته کډوال شي.

# د مقاومت ډلې او د امريکا پټې مرستې

پاکستان د لومړۍ کرښې پر دولت بدل شو، د امريکا متحدو ايالتونو په غير مستقيمه توګه د افغان مقاومت له ډلو سره مرستې پيل کړې، ولسمشر کارتر له پاکستان سره د ۴۰۰ ميليونو امريکايي ډالرو مرسته اعلان کړه مګر د پاکستان ولسمشر جنرال ضيا الحق د امريکا مرسته د نخودو دانې په ګڼلو سره رد کړه. د دې ترڅنګ امريکايانو د شوروي د احتمالي بريد په صورت کې د پاکستان د پولو ساتلو د تضمين غوښتنه رد کړه.

په ۱۹۸۱ زيږديز کال کې ريګن چې کمونيزم ضد توند نظريې درلود، د امريکا د متحدو ايالتونو ولسمشر شو، له شوروي سره مخالفت د نوموړي د بهرنۍ پاليسۍ مرکزي برخه جوړوله، نوموړی په دې باور و، چې د شوروي نظامي برتري د کړکيچ کمولو (détente) پاليسۍ او وسلو د کنټرول پرسر د شوي تړونونو پايله وه. همدا رنګه نوموړي فکر

کاوه، چې شوروي دوسلو دکنترول په تولوترونونوکې له فریب نه کاراخیستی و ،نوموړي غوښتل چې شوروي باید په افغانستان باندې دبرید له امله ستر سیاسي او اقتصادي زیان ووینې.
په ۱۹۸۱ زیږدیزکال کې ولسمشر ریګن دشوروي اتحاد تهدید د مخنیوي په موخه اوله پاکستان سره دمرستې لپاره له کانګریس نه د ۳،۲ میلیارده ډالرو مرستې دتصویب غوښتنه وکړه،دمرستو ترڅنګ امریکایانو غوښتل څودپاکستان له لارې افغان مجاهدینو ته پیسې او وسلې واستوي.
سره ددې چې دشوروي له لوري دسخت غبرګون ښودلو ویره ورسره وه ولسمشر ضیاالحق دخپلو ملي ګټودخوندیتوب لپاره دامریکا وړاندیز ومانه، دپاکستان استخباراتي اداري آی ایس آی دټولوهغو ډلو لپاره چې په افغانستان کې یې دشوروي ځواکونوپروړاندې جګړه کوله دوسلوبرابرولومسولیت پرغاړه واخیست.سي آی اې دامریکادمتحدو ایالتونو او سعودي عربستان په پیسو باندې افغان مجاهدینو ته د نظامي وسایلو برابرول پیل کړل.
دریګن اداري له افغان مجاهدینو سره دمرستې په موخه له پاکستان نه پرته بل ښه ملګری نه شو پیدا کولای،لومړی داچې امریکا یوازې دپاکستان له لارې افغان مجاهدینو ته مرستې برابرولای شوې،دویم داچې پاکستان له افغانستان سره اوږده پوله درلوده،دریم داچې په ایران کې د ۱۹۷۹ زیږدیزکال اسلامي انقلاب نه وروسته امریکایانو له دغه هېوادسره اړیکې نه درلودې.
دکمونیست رژیم پرضد دافغانستان دمقاومت ډلو ته دامریکا مرستې پیل شوې،دغو اسلامي ډلو دجهاد او اسلامي یوالي له برکته دعامو

وګـــړو ملاتـــړ ترلاســـه کـــړی و، دغـــه جنګیـــالي د مجاهـــدینو یا سپېڅلو جنګیالیو په نامه یادېدل.دغو پاکستان میشتو اسلامي ډلـو لـه یو شمیر بهرنیـو هېوادونـو پـه ځـانګړې توګـه سـعودي عربسـتان سـره، چې د دوی د مقاومـت لپـاره یـې پـه میلیـاردونو ډالرو مرسـتې برابرولې نږدې اړیکې درلودې.په پاکستان کې ۷ پیژندل شوې جهـادي ډلې وې چې د امریکا د متحدو ایالتونو، سعودي عربسـتان او پاکسـتان لخوا یې ملاتړ کیده، ددې ډلو مرکزونه په پیښور کې وو.دغـه ۷ ډلـې پـه دریـو معتـدلو او څلورو بنسـټپالو ډلو ویشـل شوې وې،لـه هغـوی نـه یـې دوه بنسـټپالې ډلـې ډیـرې مهمـې او فعـالې وې.د برهـان الـدین ربـاني اسلامي جمعیت او د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب.

د امریکـا متحـدو ایالتونو او پاکسـتان د مقاومت لـه هغـو خپلواکـه ډلـو سره، چې د افغانسـتان د ننـه یـې د شوروي پرورانـدې جګـړه کولـه او پـه پاکستان کې میشتو ډلو سره یې تړاو نـه درلـوده، د مرسـتو لـه کولـو ډډه کوله.د مقاومت دغه خپلواکه ګروپونه د سي آی اې او آی ایس آی لخـوا په بېلابېلو ډلـو د مقاومـت ویشـلو لـه املـه پـه غوصـه شوي وو.ددې ډلـو نیو کې سمې وې ځکه هغوی له یوې خوا لـه شوروي ځواکونو او لـه بلې خوا له کمونیست رژیم سره په جګړه بوخت وو.دا ټولو ته څرګنده وه، چې لـه افغـان مقاومـت سره کیدونکې مرسـتې ټولې پـه پیښـور کې میشـتو جهادي ډلو په ځانګړي توګه د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب ته ورکول کیدې.نوموړي د امریکا او نـورو هېوادونو د مرسـتو سمه نیمـایي برخـه ترلاسه کوله.په لومړي سر کې د امریکا متحدو ایالتونو د مرستو د ویـش په اړه کومه اندیښنه نه درلوده مګر وروسته امریکایان د مرسـتو د ویـش له امله په غوصه شول، هغوی حکمتیار دیو فرصت طلبه شخص پـه نـوم

یادوو.امریکا په مستقیمه توګه له شوروي سره له مخامخ کیدو نه ځان ساته او پرځای یې د مقاومت له ډلو سره د پټو مرستو پالیسي مخ ته وړله.
په همدې تړاو د پنټاګون لخوا د څېړونکو یوه ډله پاکستان ته واستول شوه، یادې ډلې وړاندیز وکړ، چې افغان مجاهدینو ته دې د مرستې په موخه د ځمکې لاندې ماینونه او درنې وسلې ورکول شي.مګر د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له دغه وړاندیز نه ملاتړ ونه کړ.
دریګن اداري په تکراري توګه دا خبره کوله چې افغان مجاهدین له هغو وسلو نه ګټه پورته کوي، کومې چې دوی د جګړې پرمهال له شوروي ځواکونو نه د غنیمت په توګه ترلاسه کړې.تریوه ځایه پورې دا خبره سمه وه مګر د مجاهدینو لپاره دوسلو زیاته برخه د سي آی اې او آی ایس آی لخوا برابریدله یوه اندازه وسلې د جګړې پرمهال له شوروي ځواکونو ترلاسه شوې وې، یوه اندازه له آزاد بازار نه رانیول شوې وې او یوه اندازه نورې یې د شوروي له ملاتړو هېوادونو نه اخیستل شوې وې.مصر د افغان مجاهدینو لپاره دوسلو ستر چمتو کونکی هېواد و، چې د مریکایانو په غوښتنه به یې افغان مجاهدینو ته وسلې جوړولې.
په ۱۹۸۲ زیږدیز کال کې په افغانستان کې د شوروي ځواکونو درنو تلفاتو شوروي ځواکونه په غوصه کړل،له همدې امله یې په خپلو ځمکنیو او هوایي بریدونو کې زیاتوالی راوست.ددې بریدونو له امله د افغان مقاومت زیات شمیر جنګیالیو خپل ژوند له لاسه ورکړ.د مقاومت ډلې کوم منظم ځواک نه و، له همدې امله هغوی ته د خپلو تلفاتو کره اندازه معلومه نه وه، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په

جګړه کې دزیات شمیر افغانانو پروژنې باندې سترګې پټولې او یوازې یې شوروي ځواکونو ته دزیات زیان په اړولو باندې ټینګار کاوه.پورته ټکو ته پام سره جنرال ضیاالحق وویل، چې "دامریکا دبهرنیو چارو وزارت دې ته پام نه کوي، چې ترڅو ورو سته به افغانان له څه ډول حالت سره مخ کیږي".

# د ملګرو ملتونو هڅې او د ژنیو توافقات

ملګرو ملتونو د سولې د ټینګښت او د شخړې د حل په موخه د پام وړ هڅې ترسره کړې په ۱۹۸۱ زیږدیز کال کې پاکستان او افغانستان ته د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د سفر پروړاندې مثبت غبرګون وښودل شو.
همدارنګه نوموړي په مسکو کې له برژنیف سره وکتل، برژنیف په پاکستان نیوکه وکړه، چې د امریکا د متحدو ایالتونو او چین د فشار له امله نه غواړي څو له افغانستان سره دوه اړخیزې خبرې وکړي.نوموړي د سیاسي حل لپاره خپله هیله او تمایل څرګند کړ.
د۱۹۸۱ زیږدیز کال په اګست کې پیژندل شوی او پیاوړی ډیپلومات ډیګو کورډویز د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي د ځانګړي استازي په توګه وټاکل شو ،نوموړي د جنجالي مسایلو د حل په موخه د پام وړ هڅې ترسره کړې او یولړ نوښتونه یې رامنځ ته کړل.د۱۹۸۱ او ۱۹۸۲ زیږدیزکلونو مشورې وروسته بیا د ژنیو توافقاتو

په فهرست او طرحې باندې بدلې شوې.
د۱۹۸۲ زیږدیز کال په جولای کې د افغانستان په اړه د سترو قدرتونو ترمنځ لومړنی بحث په ماسکو کې ترسره شو، شورویان په دې هیله وو، چې ولسمشر ریګن به د کړکیچ کمولو (détente) پالیسۍ پر اساس چې له مخې یې دواړه سترقدرتونه مساوي ګڼل کیدل له دوی سره خبرې وکړي.همدارنګه ماسکو هیله مند و، چې ولسمشر ریګن به دولسمشر کارتر په پرتله چې په ۱۹۸۰ زیږدیز کال کې یې د دوی پر وړاندې سختې پالیسۍ رامنځ ته کړې وې، نرم دریځ ولري. مګر نورنو د ماسکو دا ډول هیلو کومه معنی نه درلوده.
د شیطاني امپراتورۍ(شوروي اتحاد ) پر وړاندې ولسمشر ریګن د کارتر په پرتله توند دریځ او سختې پالیسۍ رامنځ ته کړې.په ۱۹۸۲ زیږدیز کال کې برژنیف مړ شو، بې له دې چې له ریګن سره د افغانستان او یا کومې بلې مسلې په اړه کوم توافق ته ورسیږي.
د برژنیف ځای ناستی یوري اندروپوف په دې ښه پوهیده، چې ولسمشرریګن به د دریمې نړۍ په ځانګړي توګه د افغانستان پر وړاندې د شوروي اتحاد د پالیسو په اړه په خپل سخت او توند دریځ کې هیڅ ډول بدلون را نه وړي.
اندرو پوف په ۱۹۷۹ زیږدیز کال کې په افغانستان باندې د شوروي له تیري سره خپل مخالفت وښود، نوموړي داومنله چې په افغانستان باندې تیری یوه غلطي وه او دی به دلویدیځ د همکارۍ په صورت کې خپل ځواکونه بیرته له افغانستان نه وباسي.
شوروي دا ډول دریځ د تیري د بدو پایلو او په شوروي اقتصاد باندې د زیات فشار راتللو له امله غوره کړی و.په افغانستان باندې تیري

د کړکیچ کمولو (détente) پالیسۍ مخه ونیوله او په نړیواله کچه یې شوروي اتحاد بې حیثیته کړ.

داندروپوف لپاره ډېره ستونزمنه وه څو د امریکا او شوروي ترمنځ په خرابو اړیکو کې ښه والی راولي، په ۱۹۶۲ زېږدیز کال کې د کیوبا د توغندیو تربحران وروسته اوس نو د امریکا او شوروي اړیکې په ډېر بد حالت کې وې.

د۱۹۸۲ زېږدیز کال په جون کې د ملګرو ملتونو په مشرۍ په ژنیو کې خبرې پیل شوې، کوردوویز هڅه کوله څو د ټولو لوروترمنځ پخواني جنجالي مسایل او شخړې یو لوري ته کړي او د نویو مسایلو په اړه خبرو ته زمینه برابره کړي.

د نو موړي لومړی وړاندیز داوه، چې افغانستان او پاکستان به د یو بل په چارو کې لاسوهنه نه کوي، دویم وړاندیز یې داوه، چې افغان کډوال به بیرته په خپله خوښه خپل هېواد ته ستنیږي او دریم وړاندیز یې داوه چې، شوروي به له افغانستان نه د خپلو ځواکونو د وتلو په اړه خپله ژمنه او تعهد څرګندوي.

د شوروي د هغې غوښتنې ترسره کیدو په اړه، چې امریکایان به خپله لاسوهنه بندوي، کوردویز وړاندیز وکړ، چې دواړه سترقدرتونه به د ژنیو د معاهداتو تضمین کوي.

په افغان رژیم کې د هیڅ ډول بدلون یادونه ونه شوه، دواړو سترو قدرتونو مذاکرات او خبرې اترې ډېرې جدي ونه ګڼلې، شوروي اتحاد په خپلو پیاوړو ځواکونو باندې چې په عصري وسلو سمبال وو ډېر ډاډه و، مګر د افغان مجاهدینو زور یې له پامه غورځولی و، هغوی چې د پاکستان، سعودي عربستان او امریکا لخوا یې ملاتړ کیده. د امریکا

متحدو ایالتونو پوره ډاډ درلود، چې شوروي به د نظامي لارې ماتې خوري، له همدې امله يې د افغان بحران له سیاسي حل سره چندان علاقه نه درلوده. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت کارکونکو د کوردوویز د سولې ماموریت په اړه سپکونکې څرګندونې کولې.

اندروپوف د خپلو نظامیانو او د شوروي کمونیست ګوند مشرانو له مخالفت سره سره توافق وکړ، چې د ملګرو ملتونو د ملاتړ په صورت کې به له افغانستان نه خپل ځواکونه وباسي. مګر پاکستان او د امریکا متحده ایالتونه دې ته چمتو نه وو، څو له اندروپوف سره یو جوړجاړي ته ورسیږي.

دا چې سره جګړه خپل وروستي حد ته رسیدلې وه، نو له دې امله واشنګټن د ملګرو ملتونو د سولې په خبرو کې د شوروي په ریښتینولۍ باندې باور نه درلوده، امریکا د شوروي پروړاندې تونده او سخته پالیسي رامنځ ته کړه، مګر اندروپوف دې پایلې ته رسیدلی و، چې د افغانستان پرسر خبرې او جوړجاړی به د دواړو سترو قدرتونو ترمنځ د اړیکو په ښه کېدو او عادي کېدو باندې مثبته اغیزه وکړي.

د اختلافونو کمولو په موخه اندروپوف په یوه لیک کې ولسمشر ریګن ته ولیکل، چې د خپلې خوښې مسلې یعنې د بې وسلې کولو په اړه دې ورسره خبرې وکړي. د ریګن ځواب مثبت و، مګر د نوموړي سلاکاران د هغه له ځواب سره موافق نه وو. د شوروي پروړاندې د دې سختې او دوښمنۍ نه ډکې پالیسۍ اصلي لامل د ریګن د ولسمشرۍ پر مهال د دغه هېواد د استخباراتي ادارې سي آی اې د مشر ویلیم کیسي تونده دریځ و. نوموړي د افغان مسلې پروړاندې یوه تونده تګلاره غوره کړې وه.

دامریکا سنا مجلس داپه ډاګه بیان کړه، چې د دغه هېواد حکومت له افغانانو سره دومره مرسته کوي، چې هغوی ورباندې یوازې جګړه کولای شي او وژل کیږي، مګر دغه مرستې دومره نه دي څو هغوی بریالیتوب ته ورسوي. دامریکا دبهرنیو چارو وزارت دسي آی اې په سختې او توندې پالیسی باندې نیوکې کولې. په وروستیو کلونوکې دامریکا متحدو ایالتونو دافغانستان پروړاندې په خپله پالیسی کې ژور بدلون راوست او افغان مجاهدینو ته یې دنظامي بریا په موخه ددرنو وسلو لیږل پیل کړل.

کوردویز خپلوهڅو او له کابل، اسلام آباد، ماسکو او واشنګټن نه خپلو لیدنو ته دوام ورکړ، نوموړي په خپلو کتنو کې په افغانستان کې دسوله ییز حل په موخه بحثونه او خبرې درلودې. پاکستان له افغان رژیم سره په مخامخ او مستقیمه توګه دخبرو له کولو نه ډډه کوله، ځکه دې کار افغان رژیم ته مشروعیت ورکاوه او دمقاومت مشروعیت یې ترپوښتنې لاندې راوست.

دامریکا متحدو ایالتونو په ډاګه کړه، که شوروي اتحاد دسیاسي حل لپاره رښتیني تعهد څرګند کړي نوبیا دوی چمتو دي چې له یاد بهیر سره مرسته او همکاري وکړي.

دژنیو د۱۹۸۳ زیږدیز کال داپریل میاشتې په خبروکې له افغانستان نه دشوروي ځواکونو دوتلو مهال ویش په اړه یو دپام وړ پرمختګ ترسره شو، شوروي اتحاد ژمنه وکړه، چې له افغانستان نه به په تدریجي ډول ووځي.

کوردویز اعلان وکړ، چې دسولې تړون نوي فیصده تکمیل شوی دی. د۱۹۸۴ زیږدیز کال په فبروری کې اندروپوف مړ شو او محافظه کاره

کونستانتین چرنینکو د نوموړي د ځای ناستي په توګه وټاکل شو. نوموړي د کابل رژیم یوازې پرېښودل رد کړل او د نظامي عملیاتو په زیاتولو سره یې له هغه نه خپل ملاتړ ته دوام ورکړ. په همدې مهال په روانه جګړه کې زیات شمیر شوروي سرتیري ووژل شول په مقابل کې د امریکا متحدو ایالتونو د شوروي پروړاندې خپله پالیسي نوره هم سخته او تعرضي کړه، شوروي ځواکونو ته د زیات زیان اړولو په موخه یې افغان مجاهدینو ته په خپلو مرستو کې د پام وړ زیاتوالی راوست. چرنینکو له امریکا او پاکستان سره د مخالفت په ښودلو د ژنیو د سولې خبرې او هڅې ګډوډې کړې، نوموړي نه یوازې دا چې له افغانستان نه یې د خپلو ځواکونو د وتلو له مهال ویش سره مخالفت څرګند، بلکې په راتلونکي کې یې هم دا ډول یوه ژمنه او تعهد په کلکه رد کړ، نوموړي ژنیو ته له افغان پلاوي سره دیو سلاکار لیږل هم رد کړل. په دې توګه د ژنیو د خبرو بهیر په ټپه ودریده او افغانستان د سرې جګړې ترټولو سخت پړاو ته ورننوتی. چرنینکو د وسلو د کنټرول په اړه د خبرو په موخه د ولسمشر ریګن وړاندیز هم رد کړ، په دې توګه په شوروي کې د مشرتابه تربدلیدو پورې د امریکا او شوروي په اړیکو کې کوم بدلون رامنځ ته نه شو.

په ۱۹۸۴ زیږدیز کال کې د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي کوردویز له یو لوري د امریکا او پاکستان او له بل لوري د شوروي اتحاد او کابل رژیم په پالیسیو کې مهم او سخت اختلافونه په ډاګه کړل پاکستان د امریکا د متحدو ایالتونو غوصه او کرکه راپارولې وه، پاکستان پرته له دې چې له واشنګټن سره سلا وکړي له افغانستان سره یې د یو بل په چارو کې د نه لاسوهنې په موخه د دوه اړخیزو خبرو پیل کول منلي و.

امریکا افغان مجاهدینو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ، واشنګټن پوست ورځپاڼې لیکلي و، چې دویتنام ترجګړې وروسته له افغان مجاهدینو سره دامریکا مرستو ددغه هېواد دپټو فعالیتونو تر ټولو زیاته برخه جوړوله
امریکایانو په اسلام آباد او افغان جلا وطنو ډلو باندې تور لګاوه، چې له افغان مجاهدینو سره دمرستو زیاته برخه هغوی ته نه رسوي دې ډول څرګندونو او حالاتو دملګرو ملتونو د سولې په بهیرباندې چې له ژنیو نه پیل شوی و، خپل اغیز پریښود.
په ۱۹۸۴ زیږدیز کال کې ریګن ددویم ځل لپاره دامریکا د متحدو ایالتونو ولسمشر شو او له شوروي سره یې داړیکو ښه کولو په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکړ. نوموړی داخل ځکه بریالی شو، چې د ۱۹۸۵ زیږیز کال په مارچ کې ګورباچف دچرنینکو دځای ناستي په توګه وټاکل شو.
ګورباچف غوښتل ځود شلمې پېړۍ له مهمو سیاسي رهبرانو څخه وګڼل شي، نوموړی یوله هغو شوروي مشرانو نه و، چې په افغانستان کې یې دشوروي دمداخلې له پریکړې سره مخالفت ښودلی و، نوموړي په ۱۹۸۳ زیږدیز کال کې له کاناډا نه دکتنې پرمهال په افغانستان باندې دشوروي تیری یوه تیروتنه ګڼلې وه. نوموړي دجګړې له امله دشوروي اتحاد اقتصاد ته دزیات زیان رسیدلو له امله نیوکې کولې. ګورباچف غوښتل ځوستونزې ته دحل یوه لارپیدا کړي له افغانستان نه دشوروي ځواکونو وتلو دنوموړي دبهرنۍ پالیسۍ په سرکې ځای درلود. مګر دګورباچف دحکومت په دو لومړیو کلونو کې په واشنګټن کې دبهرنۍ پالیسۍ پرسر سختو بحثونو او اختلافونو دوام درلود.

امریکایي پالیسۍ جوړونکو غوښتل، چې افغان مجاهدینو ته د مرستو زیاتولو له لارې شوروي ځواکونه د مصروف ساتلو ترڅنګ سم وځپي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت په افغانستان کې د شوروي پرضد تعرضي پالیسي رامنځ ته کړه. د ۱۹۸۵ زیږدیز کال په مارچ کې ولسمشر ریګن یو پټ لارښود NSDD 166 لاسلیک کړ، چې له مخې به یې افغان مجاهدین په بشپړه توګه وسله وال کیدل څو شوروي ځواکونو ته ماتې ورکړي.

د امریکایي څیړونکو وړاندیز داوه، چې د نظامي فشار زیاتولو ترڅنګ دې ډیپلوماتیکو نوښتونو او هڅو ته هم دوام ورکول شي، څو د شوروي د نوي مشرتابه د سختۍ کچه معلومه کړای شي. افغان مجاهدینو ته د مرستو برابرولو اود سي آی اې او آی ایس آی لخوا د هغې د ویش په اړه نیوکې او مخالفتونه راپورته شول مګر د امریکا د متحدو ایالتونو اصلي موخه داوه څو له نظامي پلوه شوروي ته سخت زیان واړوي او اړیې کړي څو افغانستان پریږدي. له همدې امله سي آی اې د افغان مجاهدینو هغو ډلو ته چې له نظامي پلوه اغیزمنې وې زیات اهمیت ورکاوه، په دې برخه کې د حکمتیار اسلامي حزب ته لومړیتوب ورکول کیده، مګر په واشنګټن کې د نومورې داغیزمنتوب په اړه زیات شمیر پوښتنې موجودې وې.

په ۱۹۸۶ زیږدیز کال کې د مقاومت ډلو د برهان الدین رباني په مشرۍ د ژنیو مذاکراتو لپاره یو پلاوی واستوه، افغان پلاوي په واشنګټن کې له ولسمشر ریګن سره هم لیده کاته او خبرې ترسره کړې.

د ژنیو خبرې اومذاکرات چې له ۱۹۸۳ زیږدیز کال را په دې خوا د ناکامۍ پرلور روان وو، په ۱۹۸۵ او ۱۹۸۶ زیږدیز کلونو کې یې نوې بڼه خپله

کړه.
په دې خبرو کې ګورباچف د امریکا متحد ایالتونه د تضمین کونکي په توګه ومنل، هغه څه چې پخوا د کرملین له لوري رد شوي و، دا په داسې حال کې و، چې په واشنګټن کې د امریکا د تضمین کونکي رول په اړه جنجالي او سختو بحثونو دوام درلود. امریکا نه غوښتل د تضمین کونکي رول ترهغو پورې ومني، څو پورې چې شوروي اتحاد له افغانستان نه د خپلو ځواکونو د بې قیدا و شرطه وتلو مهالویش نه وي اعلان کړی.
په واشنګټن کې ډیری په دې باور وو، چې له افغانستان نه د شوروي ځواکونو د وتلو په اړه کومه نښه او وړاندوینه نه لیدل کیږي په ۱۹۸۲ زیږدیز کال کې د سي آی اې په څېړنه کې راغلي و "عمومي باور دادی، چې سیاسي حل خوچیرته نه ځي". د سي آی اې غوښتنه دا وه، چې د نظامي بریا لپاره باید افغان مجاهدینو ته شتهنګر توغندي ورکول شي.
سي آی اې غوښتل څو د شتهنګر توغندیو په وسیله M124 او M125 شوروي هلیکوپترې په نښه کړي. مجاهدینو ته د شتهنګر توغندیو د ورکولو پرسر په واشنګټن کې ګرم بحثونه روان وو، د امریکایي پوځ ویره داوه، چې شتهنګر توغندي د دوی له خپلې اړتیا نه کم دي، د یو شمیر نورو امریکایانو اندیښنه داوه، چې کیدای شي شتهنګر توغندي شوروي ترهګرو ته په لاس ورشي او یو شمیر نور بیا په دې باور وو، چې مجاهدینو ته د دې ډول پرمختللې امریکایي تکنالوژۍ ورکول به د پاکستان په وړاندې د شوروي تونډ غبرګون راوپاروي. مګر آی ایس آی له سي آی اې نه په تکراري توګه غوښتل څو افغان مجاهدینو ته

شتهنګر توغندي، چې په آسانۍ سره يې خپله موخه په نښه کولای شوه وسپاري.
دشتهنګر غوښتلو لپاره د آی ایس آی غوښتنه سمه او پرځای وه، ځکه په دې توګه شوروي دجګړې په میدان کې خپله برتري له لاسه ورکړه او دافغان چاپیریال لپاره یوه ښه بېلګه ثابته شوه.
دریګن دوکتورینو له مخې افغان مجاهدینو ته دشتهنګر توغندیو په شمول دهرډول وسلو ورکولو نه دامریکایي پالیسۍ جوړونکو موخه داوه، څو په افغانستان کې شوروي اتحاد ته دروند او سخت زیان واړوي.
ګورباچف دخپل نوي فکر سره سم دشوروي پالیسۍ دبیا کتنې پرمهال څرګنده کړه، چې افغانستان په یو نه جوړیدونکې زخم باندې بدل شوی.نوموړي هغو زیانونو ته په پام سره چې شوروي ته په افغانستان کې دمداخلې له امله اوښتي وو، په خپله پالیسۍ کې بدلون رامنځ ته کړ.په افغانستان باندې دتیري پرمهال هرکال شوروي ته له یو میلیارد امریکایي ډالرونه زیات زیان اوښتی و.همدارنګه نوموړي په کابل کې دمشرتابه دبدلون غوښتنه وکړه، ځکه کارمل دحالاتو دکنټرول وړتیا نه درلوده.
د۱۹۸۵ زیږدیز کال په نومبر کې دلومړي ځل لپاره ولسمشرریګن او ګورباچف دافغان مسلې په اړه په ژنیو کې سره وکتل، ریګن داړیکو ښه کیدو په موخه له افغانستان نه دشوروي ځواکونو دویستلو غوښتنه بیا تکرارکړه، دګورباچف ځواب مثبت و، مګر نوموړي دژنیو مذاکراتو پرمهال دامریکا دبهرنیو چارو وزارت له لوري دنه همکارۍ له امله شکایت وکړ، دامریکا دبهرنیو چارو وزارت دجوړجاړي په موخه

وړاندې شوې اجنډا نیمګړې ګڼلې وه.

حقیقت داوه چې دامریکا بهرنیو چارو وزارت دشوروي پخوانیو پالیسو ته په پام سره دګورباچف وړاندیز ته ځانګړې پاملرنه ونه کړه، ددې لپاره چې دځواکونو دویستلو په اړه دګورباچف نیت او قصد معلوم کړي، دبهرنیو چارو وزیر جورج شولتز له شوروي نه وغوښتل څودځواکونو ویستلولپاره ځانګړې نیټه وټاکي.دبهرنیو چارو وزارت دتضمین کونکي رول په دې شرط ومانه، چې باید دځواکونود وتلو ترڅنګ دسیاسي حل په موخه په ټولو مسایلو باندې په مشخصه توګه بحث ترسره شي.

امریکایانو دتضمین کونکي رول له منلو سره سره له افغانستان نه دشوروي ځواکونودوتلو وړاندوینه نه شوه کولای.له همدې امله امریکایانو غوښتنه وکړه، چې ګورباچف باید دژنیو په راتلونکو خبرو کې دځواکونو دویستلو په اړه خپله رښتینولي څرګنده او له افغانستان نه دې دخپلو ځواکونو دویستلو مهالویش اعلان کړي.

# د لوبې پای
# او د طالبانو څرګندېدل

د ۱۹۸۲ زیږدیز کال د ژنیو په مذاکراتو کې دځواکونو دوتلوله مهالویش او د لنډ مهالي حکومت لـه جوړېدو نه پرتـه نورې ټولې مسلې حل شوې.ګورباچف نجیب الله ته خبر ورکړ، چې شوروي به نور دافغانستان په چاروکې لاسوهنه ونه کړي. لـه همدې امله نجیب الله دمجاهدینو مشرانو تـه دیـو ایتلافـي حکومـت دجوړولووړانـدیز وکړ، مګـر دمجاهدینو ټولومشرانو په یو غږ دغه وړاندیز رد کړ.
کوردویز دافغـان مجاهدینو، کمونیست ګونـد دغړو، ګډوالو، خپلواکه افغـان شخصـتونو اوپخـواني پاچا پـه ګـډون دیـو ایتلافي حکومـت

دجوړولو وړاندیز وکړ، مګر دغه وړاندیز د واشنګټن، اسلام آباد او مجاهدینو له لوري رد کړای شو. هغوی له کمونیست ګوند سره هرډول خبرې اوپخواني پاچا ته دهرډول رول له ورکولو سره مخالفت وښود.
دامریکا متحدوایالتونوغوښتل، چې دشوروي ځواکونو له وتلو وروسته په پیښور کې میشت جهادي تنظیمونه دواک چارې په لاس کې واخلي. دغه پالیسي په ۱۹۸۷ زیږدیزکال کې جوړه شوې وه، ځکه واشنګټن هیله مندو، چې دشوروي ځواکونو تروتلو وروسته به کمونیست رژیم ډیرزر سقوط وکړي. دغه پالیسي دسي آی اې دیو راپور پربنسټ جوړه شوې وه.
ګورباچف دامریکا دبهرنیوچارو وزارت ته په خپل پیغام کې ویلي و، چې دژنیوراتلونکې خبرې به له افغانستان نه دځواکونو دویستلو په اړه وروستی خبرې وي. همدارنګه نوموړي ویلي و، چې دوتلو له پیل کیدو سره سم به شوروي ځواکونه له جګړې لاس واخلي. واشنګټن پرته له دې چې دافغان کړکیچ لپاره یو حل لاره پیداکړي، له افغانستان نه یې دشوروي ځواکونو دوتلو په اړه خپله غوښتنه بیا تکرارکړه اوګورباچف دواشنګټن دغه غوښتنه منلې وه.
د۱۹۸۷ زیږدیزکال په ډسمبر کې ریګن اوګورباچف له یوبل سره دکتنې پرمهال غوښتل ځودافغانستان جنجالي مسله حل کړي مګر ریګن دژنیو لوبه په یوې امریکایي سیاسي مسلې باندې بدله کړې وه.
نوموړي دشوروي دا غوښتنه، چې دشوروي ځواکونو له وتلو سره سم دې افغان مجاهدینو ته خپلې مرستې ودروي ردکړه، ریګن نه غوښتل ځو افغان مجاهدین دکابل رژیم پروړاندې یوازې پریږدي.
دغه حالت په ۱۹۸۵ زیږدیزکال کې له کوردویز سره دامریکا له ژمنې نه

دناسمې معنی اخیستلو په پایله رامنځ ته شوی و، ملګرو ملتونو او شوروي اتحاد دواړو دتضمین کونکي رول مفهوم سم نه و درک کړی، دوی له افغانستان نه دشوروي ځواکونو له وتلو سره سم تضمین کونکی رول له افغان مجاهدینو سره دمرستو درولو په معنی ګڼلی و.

دامریکا دملي امنیت شورا هغه چارواکي، چې دغه پریکړه یې تایید کړې وه وروسته مړه شول او ریګن ځان ته زحمت نه و ورکړی، څو دتړون جزیات او مواد په تفصیل سره ولولي، له همدې امله نوموړي افغان مجاهدینو ته دمرستو درولو په اړه د۱۹۸۵ زیږدکال د تړون مسوده رد کړه.

واشنګټن د خپل نوي ښکاره دریځ له مخې دیوې اغیزناکې معاملې ترسره کولو لپاره ښه فرصت ترلاسه کړی و، واشنګټن په شوروي اتحاد فشار راوړ، څو امریکایانو هغه غوښتنه، چې دکابل رژیم او دمقاومت ډلې دې مساوي وګڼل شي ومني. امریکایانو په ډاګه کړې وه، چې افغان مجاهدینو ته به دمرستو بهیر هغو پورې دوام وکړي، څو پورې چې کابل رژیم ته مرستې ورکول نه وي بند شوي.

ددې ترڅنګ واشنګټن له شوروي نه وغوښتل، چې دځواکونو دوتلو دمهالویش او دلنډمهالي حکومت ترمنځ دتړاو مسله دې له ذهن نه وباسي.

ګورباچف دواشنګټن غوښتنو منلو ته چمتووالی ښودلی و، نوموړي کوردویز ته ویلي وو، چې شورویان له خپلو افغان ملګرو نه خفه او مایوسه شوي دي، هغوی نه غواړي څوزموږ ځواکونه له افغانستان نه ووځي مګر موږ به دهغوی دې غوښتنې ته هیڅ ډول پاملرنه ونه کړو.

کله چې دشوروي خطر او تهدید مخ په کمیدو شو، نو دامریکا دمتحدو

ایالتونو لپاره د پاکستان په اهمیت کې کموالی راغی، واشنګټن د مجاهدینو دلنډمهالي حکومت جوړیدلو په موخه د اسلام آباد وړاندیز ته اهمیت ورنه کړ. جنرال ضیا په دې باور و، چې ستر قدرتونه د پردې ترشاه په خپلو منځونو کې توافق ته رسیدلي. امریکا ماسکو ته د خبرو په میزهغه څه ورکړل کوم چې ماسکو د جګړې په ډګر کې نه شو ترلاسه کولای، د امریکا یانو یوازنۍ موخه له افغانستان نه د شوروي ځواکونو وتل و. امریکا په سیمه کې مستقیمې ګټې نه درلودې له همدې امله یې د جګړې نه وروسته حالاتو په اړه کومه اندیښنه نه درلوده.

واشنګټن له افغانستان نه د شوروي ځواکونو دوتلو په اړه د ګورباچف د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د فبرورۍ د ۱۵ مې اعلان هرکلی وکړ. له افغانستان نه د شوروي ځواکونو وتل به د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د مۍ په ۱۵ پیل او د لسو میاشتو په موده کې به پای ته رسیدل.

د شوروي ځواکونو دوتلو په موخه دلنډ مهالویش او ځانګړې نیتې په اړه د واشنګټن غوښتنه پوره شوه. په وروستیو کې دواړو سترو قدرتونو چمتو والي وښود، چې د ژنیو وروستي توافقات لاس لیک کړي. د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د مارچ په ۲مه خبرې پیل شوې مګر ډیرې ورو پرمخ تللې، شوروي توافق وکړ، چې په نهو (۹) میاشتو کې به له افغانستان نه وځي. دلنډمهالي حکومت جوړیدلو په اړه بحث ونه شو، کوردوویز دیوې مبهمې وینا له مخې وویل، چې دیو پراخ بنسټه افغان حکومت جوړولو لپاره به خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي.

دواړو سترو قدرتونو توافق وکړ، که چیرې شوروي اتحاد د کابل رژیم سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي، نو په مقابل کې به یې د امریکا متحد ایالتونه له افغان مجاهدینو سره خپلې مرستې جاري وساتي. واشنګټن

غوښتل چې له ماسکو نه ډیر څه ترلاسه کړي او په مقابل کې هیڅ شی ورنه کړي.
ماسکو دځواکونو د وتلو د مهالویش او له کابل رژیم سره د مرستو په برخه کې د واشنګتن تولې غوښتنې ومنلې. د امریکا متحدو ایالتونو خپلو شرایطو ته په پام سره د تضمین کونکي رول ومانه. شوروي د امریکا د برترۍ له امله په غوصه شوی و، مګر ګورباچف نه غوښتل، څو له افغانستان نه د خپلو ځواکونو وتل وځنډوي. نوموړي حتی د ځواکونو وتلو لپاره په اوربند باندې هم ټینګار نه وکړی. مګر نوموړي خپلو ځواکونو ته اجازه ورکړې وه، څو د وتلو پر مهال د هر ډول برید ځواب ورکړي.
د امریکا متحد ایالتونه د دریمې نړۍ لپاره په خپلو پالیسیو کې تل خپلې ملي ګټې په پام کې نیسي. ولسمشر ریګن له جنرال ضیاالحق نه پوښتنه وکړه، چې د ژنیو توافقاتو نه د سرغړونې په صورت کې به پاکستاني مشران څه کوي؟ د ریګن پوښتنه د پاکستان د پخواني رول په اړه وه، د کوم له مخې چې امریکایي وسلې د پاکستان له لارې افغان مجاهدینو ته رسیدلې. جنرال ضیاالحق په ځواب کې وویل، چې دوی به په دې اړه دروغ ووایي، هغه څه چې دوی د تیرو اتو کلونو راپه دې خوا د خپلو کړنو د پټولو په اړه کړي. جنرال ضیا ولسمشر ریګن ته ویلي و، چې مسلمانان حق لري څو د ښه کار ترسره کولو لپاره دروغ هم ووایي.
د ټولو مسلو تر حل وروسته د ۱۹۸۸ زیږدیز کال د اپریل په ۱۴ مه د افغانستان، پاکستان، امریکا او شوروي د بهرنیو چارو دوزیرانو له لوري د ژنیو توافقات لاسلیک شول. په همدې مهال امریکا او پاکستان اعلان وکړ، چې د دوی له لوري د ژنیو توافقاتو لاسلیک کول، د کابل

رژیم درسمیت پیژندلو په مفهوم نه دي امریکا اعلان وکړ، چې د تضمین کونکو مسولیتونه سره برابر او مساوي دي او دوی حق لري څوله افغان مجاهدینو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.
دژنیو توافقاتو له مخې پاکستان او افغانستان نه شو کولای څو دیوبل په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي ددې ترڅنګ د دواړو لوروترمنځ دپولې لانجه به په یو مناسب وخت کې حل کیده او دواړو لوریو به دیو بل ملي حاکمیت باندې له تیري او دیوبل پرضد دځواک له کارولو نه ډډه کوله.
د تضمین کونکو په توګه دواړو لورو توافق کړی وو، چې د افغانستان په چارو کې به له هرډول لاسوهنې نه ځان ساتي، دګډولو بیرته ستنولو په موخه ملګرو ملتونو ته ځانګړی رول ورکول شوی و، یوې شوروي ورځپاڼې دبرژنیف په مشرۍ دځوتنو شوروي مشرانو لخوا دژنیو توافقاتو منل شورویانو ته سپکاوی ګڼلی و.
امریکا له شوروي نه دویتنام غچ واخیست، زیات شمیر شوروي سرتیري په افغانستان کې ووژل شول، ددې ترڅنګ په افغانستان کې د جګړې له امله شوروي ته ستر اقتصادي او نظامي زیان واوښت شوروي په افغانستان کې له مداخلې نه له شرم او رسوایۍ پرته نور هیڅ هم ترلاسه نه کړل، په دې توګه شوروي په نړۍ کې خپله ابرو او حیثیت له لاسه ورکړ.
ترجګړې وروسته په افغانستان کې د امریکا ګټې محدودې شوې، امریکایانو په افغانستان کې دیو باثباته حکومت جوړولو په اړه یوازې اندیښنې څرګندولې. د امریکا یوازنۍ موخه د شوروي ماتې او ځپل و، له همدې امله یې د پاکستان له لارې له افغان مجاهدینو سره مرسته

کوله

پاکستان په افغانستان کې د ستراتیژیک عمق پیدا کولو لپاره ښه فرصت ترلاسه کړی و ،له همدې امله یې هلې ځلې کولې څو په کابل کې یو ملګری اسلامي رژیم رامنځ ته کړي.واشنګټن او اسلام آباد دواړه په دې باور وو ، چې برژنیف دنظامي ماتي له ویرې له افغانستان نه دخپلو سرتیرو ویستل غواړي.دشوروي تر ماتې وروسته امریکا په افغانستان کې خپله ښکیلتیا پای ته ورسوله.

هغه هېواد چې دکمونیزم پرضد دجګړې اوبریا میدان و ، دشوروي سرتیرو له وتلو وروسته له سختو ستونزو سره مخ شو ،افغانستان دهغو بېلابېلو ډلو چې دامریکا لخوا ورسره پټې مرستې کیدې او دشوروي پرضد یې جګړه کوله دجګړې په میدان بدل شو.دافغان مقاومت ډلې دشوروي له ماتې وروسته په خپلو منځونو کې په جګړه اخته شوې،دغه ډلې په سوله ییز ډول دواک ددایمي ویش په اړه توافق ته ونه رسیدې، دواک لاس ته راوړلو لپاره دهغوی حرص او هڅو.جګړه ځپلی افغانستان نور هم بې ثباته اوپه بشپړه توګه ویجاړ کړ.دافغان ولس کړاونه او غمونه لاپسې زیات شول.

دآزادۍ په جګړه کې ټول افغان ولس درانده زیانونه اوسختې ستونزې ولیدلې،زیات شمیر افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ اویو زیات شمیرنورو بیا دخپل بدن برخې له لاسه ورکړې وې، چاودیدونکي توکي او ماینونه په ټول افغانستان کې دجګړې دښکیلو لوریو لخوا ځای پرځای شوي وو ،مګر دجګړې اصلي قربانیان بې وزله ملکي وګړي او بې ګناه کوچنیان وو ،نږدې یو میلیون افغانان وژل شوي وو ،ترشپږو میلیونو زیات افغانان دخپل هېواد پریښودلو ته اړ شوي وو او ددغه

هېواد زیربنایي جوړښتونه په بشپړ ډول له منځه تللي وو.
د سرې جګړې پای ته رسیدلو او په افغانستان کې د حکومت جوړولو لپاره د مجاهدینو ناکامه کیدو امریکایي پالیسي جوړونکي اړ کړل، خو د سیمې لپاره په خپله پالیسي کې بدلون راولي، امریکایانو له شورویانو سره د اړیکو ښه کیدو لپاره هڅې پیل کړې، دواړو سترو قدرتونو غوښتل خو د سیمه ییزو بحرانونو لپاره حل لارې ولټوي.
د ګورباچف پالیسیو د ختیځ او لویدیځ ترمنځ سیالي راکمه کړه، په دې توګه د توندلاړو شورویانو او توندلاړو امریکایانو ترمنځ په اختلافونو کې کموالی راغی، ګورباچف له امریکا سره د نظامي ټکر مخه ونیوله، خو په دې توګه د شوروي اقتصاد پیاوړی او په پښو ودروي، له همدې امله نو موړي د ۱۹۸۸ زیږدیز کال په اپریل کې د ژنیو توافقات لاسلیک کړل.
د ۱۹۹۲ زیږدیز کال له اپریل نه تر ۱۹۹۴ زیږدیز کال پورې د افغانانو ترمنځ د ورور وژنې په جګړه کې تر ټولو ییښت زرو زیات کسان ووژل شول، د امریکا متحدو ایالتونو په ملګرو ملتونو باندې فشار راوړ، خو افغانستان ته سوله راولي، مګر په خپله یې د منځګړي په توګه درول له ترسره کولو نه ډډه کوله، امریکایان په دې باور وو، چې په افغانستان کې به جګړه تر هغې پورې دوام وکړي، خو پورې چې د دغه هېواد ګاونډیان د افغانستان په چارو کې له لاسوهنې نه لاس وانه خلي. امریکا په خپله په دې بد قسمته خاوره کې د نیابتي جګړې لپاره وسلې او پیسې برابرولې، مګر اوس یې په نورونیو کې کولې چې د افغانستان په چارو کې لاسوهنه کوي.
د شوروي اتحاد له منځه تللو امریکایانو ته زمینه برابره کړه، خو سیمه

چې د دوی لپاره یې نور کوم ستراتیژیک اهمیت نه درلوده پریښودي، د افغانستان پرسر د سترو قدرتونو همکاری نوې بڼه غوره کړه، امریکایانو غوښتل څوله افغان شخړې نه، چې دوی په کې خپلې ګټې نورې نه لیدلې ځانونه لرې وساتي. مګر په افغانستان کې د طالبانو له څرګندیدلو سره سم په افغانستان کې د امریکا د ګټو مسله بیا راپورته شوه.

واشنګټن په افغانستان کې سیاسي ثبات غوښته، له همدې امله یې د سولې د ټینګښت لپاره هڅې کولې او دیو داسې سیاسي حل په لټه کې و، چې د ټولو ډلو لپاره د منلو وړ ووسي. د امریکا حکومت طالبانو ته په منځنۍ آسیا کې د ثبات د سرچینې په توګه کتل، په سیمه کې د ثبات د شتون په صورت کې له منځنۍ آسیا نه د تیلو او ګازو نل لیکو غزولو لپاره زمینه برابریده. د غه پروژه هغه مهال له ناکامۍ سره مخ شوه، کله چې طالبانو د امریکایانو شرایط ونه منل.

د امریکا متحدو ایالتونو په شتمن سعودي ناراضي او د افغان جهاد پرپیژندل شوې خیرې اسامه بن لادن توري پورې کړ، چې د ۱۹۹۸ زیږدیز کال د اګست په ۷ مه یې په کینیا او تانزانیا کې د امریکا په سفارتونو باندې بمي بریدونه کړي، چې له امله یې ۲۲۴ تنه وژل شوي او ۴۵۰۰ تنه ټپیان شوي وو.

امریکا په طالبانو تورپورې کړ، چې په خپله خاوره کې یې بنسټ پالو ډلو ته پناه ورکړي او په افغانستان کې یې د توندلارو دروزلو په موخه دروزنې مرکزونه جوړ کړي. امریکا ادعا وکړه، چې په خپلو سفارتونو باندې د بمي بریدونو ترشا د اسامه بن لادن او د هغه د القاعده شبکې لاس لرلو په اړه کافي اسناد او ثبوتونه لري. امریکا په خپلو

سفارتونو باندې د بریدونو په ځواب کې په ختیځ افغانستان کې دالقاعده مرکزونه په کروز توغندیو وویشتل، دامریکا حکومت له طالبانو غوښتنه وکړه، چې اسامه بن لادن دې وروسپاري، کله چې طالبانو دامریکا غوښتنه رد کړه، نو بیا امریکا په ملګرو ملتونو فشار راوړ، څو په طالبانو اقتصادي بندیزونه ولګوي. د دې ترڅنګ امریکایانو په طالبانو د بشري حقونو د تیري او د نشه یي توکو د قاچاق تورونه پورې کړل.

# د ۲۰۰۱ زيږديز کال دسپټمبر د ۱۱ مې بريدونه

په دې ټولو کلونو کې امريکا په طالبانو فشار راوړ، چې يا خودې اسامه بن لادن وروسپارې او يا خودې دنومونړې د ساتلو پايلو ته منتظر ووسي. په طالبانو دبنديزونو لګول دامريکا دستراتيژۍ يوه برخه وه، امريکا له بېلابېلو فرصتونو نه په ګټې اخيستنې په طالبانو خپل فشار ته دوام ورکړ، امريکايانو غوښتل څو طالبان له واکه لرې کړي او پرځای يې قومي ډلې، پخوانی پاچا او يا دجنوب اتحاد واک ته ورسوي، په پای کې امريکا دطالبانو دلرې کولو په موخه په افغانستان نظامي بريدوکړ، ځکه امريکايانو د ۲۰۰۱ زيږديز کال دبريدونو مسؤليت پرالقاعدې او طالبانو اچولی و.

په نيويارک او واشنګټن باندې د ۲۰۰۱ زيږديز کال د سپټمبر د ۱۱ مې بريدونو ټوله لوبه بدله کړه، امريکا دافغانستان پروړاندې په خپلې پاليسۍ بيا له سره کتنه وکړه او دترهګرۍ پروړاندې يې جګړه پيل کړه. په امريکا د سپټمبر د ۱۱ مې بريدونو په پايله کې ۳۰۰۰ تنه ووژل

شول.
امریکا دغچ اخیستلو په موخه، په افغانستان کې د توندلاریتوب پر وړاندې د نړیوال ایتلاف دجګړې مشري په غاړه واخیستله، داچې امریکایانو دطالبانو دکمزورۍ په اړه پوره معلومات درلودل، نوله دې امله په ډیرې چټکۍ سره مهم بدلونونه رامنځ ته شول.امریکا په لنډه موده کې دطالبانو رژیم ړنګ کړ.امریکا ته داسامه بن لادن د سپارلو پر سر د سیاسي اوډیپلوماتیکو هڅو له ناکامه کیدو وروسته، دامریکا متحدو ایالتونود۲۰۰۱ زیږدیزکال داکتوبر په ۷مه په افغانستان نظامي برید وکړ.
دطالبانو درژیم تر ړنګولو وروسته هم امریکا په افغانستان کې داسامه بن لادن دپیداکولو په موخه خپل عملیات جاري وساتل.امریکایان غواړي څواسامه بن لادن ووژني، یایې ونیسي او دالقاعدې شبکه لمنځه یوسي.
ترکومه ځایه پورې چې په افغانستان کې دامریکا په موخوپورې اړه لري، نو امریکایانو په افغانستان کې خپلې ځینې موخې ترلاسه کړې،امریکا په افغانستان کې دالقاعده مرکزونه او اډې لمنځه یوړې اودطالبانورژیم یې ړنګ کړ.
اوس به لا وختي وي چې په افغانستان کې دامریکا دبریالیتوب په اړه څه وویل شي،مګر دامریکا متحدایالتونه غواړي دنړۍ په هره برخه کې دالقاعدې په وړاندې جګړه وکړي.امریکا القاعده په یوه هېواد پورې تړلې نه ګڼي بلکې توندلاریتوب یوه پیچیده مسله بولي.امریکا دسترځواک په توګه ځان ته حق ورکوي څودترهګرۍ سره دجګړې په نوم د نړۍ په هر هېواد ،هرې ډلې او هرشخص باندې برید وکړي.

تولو ته څرګنده ده، چې امریکا له افغانستان سره داړیکو له لارې غواړي په منځنۍ آسیا کې خپل اغیز ته پراختیا ورکړي او په یاده سیمه کې دچین داغیزې زیاتیدو مخه ونیسي. په هرصورت په سیمه کې دامریکا دموخو په اړه وړاندوینه به ډیره سخته وي پیښې په ډیرې چټکۍ پرمخ ځي او ټول سیمه ییز ځواکونه دخپلو موخو دلاس ته راوړلو په هڅه او لټه کې دي.

افغان حکومت دامریکا او نړیوالې ټولنې له قوي او پیاوړي ملاتړ پرته نه شي کولای څوسوله او امنیت راولي، افغان حکومت پیاوړی نظامي ځواک په واک کې نه لري، له همدې امله دامریکا متحد ایالتونه باید دملګرو ملتونو له لارې دافغان حکومت له پیاوړي کولو سره مرسته وکړي. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پخواني رول ته په پام سره، ملګرو ملتونو ته دنوي رول ورکولو په اړه ملاتړلیدل کیږي.

اوس نو باید امریکایانو خپله تیره غلطي درک کړي ووسي، امریکا باید دجګړه ځپلي افغانستان دبیاجوړولو په موخه خپلې ژمنې پوره کړي او له افغانستان نه خپل پراخ مالي ملاتړ ته دوام ورکړي. یو راپور څرګندوي، چې امریکا باید دافغانانو دملاتړلاس ته راوړلو لپاره دجګړې پرځای دنویو زیربنایي پروژو په جوړولو باندې پیسې ولګوي. دامریکامرستې او ملاتړ به له افغانانو سره مرسته وکړي، څو په جګړه ځپلي افغانستان کې په ارامۍ سره ژوند ترسره کړي.

ګمان کیږي چې دافغانستان ګاونډیان به ددغه هیواد دبیارغونې له بهیر نه پوره ګټه پورته کړي او امریکایان به دویمه ستره لوبه ترسره نه کړي، دکومې لوبې لوبغاړي چې اوس دامریکا دپالیسیو ملاتړ کوي. دتروریزم پروړاندې جګړې دملتونو ترمنځ اړیکو لپاره نوی بنسټ

رامنځ ته کړ، کوم چې عمومي امنیتي اندېښنې او اقتصادي غوښتنې په برکې نیسي.

که امریکایان، دهغوی نړیوال ملګري او سیمه ییز ځواکونه په افغانستان کې دیوې ځانګړې قومي ډلې نه ملاتړ وکړي، نو په دې توګه به په افغانستان کې نوی سیاسي جوړښت او سیستم له ناکامۍ سره مخ شي. داکار به له ورانۍ او تاوتریخوالي پرته نور هیڅ شی له ځانه سره ونه لري.

په تیرو وختونو کې دامریکا متحدو ایالتونو دافغانستان پروړاندې یو ثابته، اوږدمهاله او پراصولو ولاړه پالیسي نه درلوده، بلکې خپلو لنډمهالو ګټو ته پام سره یې دافغانستان په وړاندې خپلې پالیسۍ رامنځ ته کړې.

# پايله

امريکا ديوسترځواک په توګه غواړي څوپه يو وخت کې څوډوله موخې ترلاسه کړي ځينې وختونه دغه موخې له يوبل سره په ټکر کې وي، د دې ډول حالت ښه بېلګه په افغانستان کې د طالبانو پروړاندې د امريکا پاليسي وه، تر دې وړاندې په ۱۹۸۰ زيږدېز کال کې د افغانستان په وړاندې د امريکا د بهرنۍ پاليسۍ مهمه موخه له دغه هېواد نه د شوروي سرتيرو ويستل و. امريکا په زياته اندازه وسلې سيمې ته واستولې، دوسلو کلتور د بېلابېلو جنګي ډلو د پيداکېدو سبب شو، چې سيمې ته يې د سولې راوستلو په موخه نړيوالې هڅې له ناکامۍ سره مخ کړې.

په ښکاره توګه په افغانستان کې سوله ليدل کېږي، مګر لويديځ ستراتيژي جوړونکي بايد له ځانه وپوښتي چې آيا نوی رژيم د هېواد د اداري کولو وړتيا او توانايي لري.

په سيمه کې د سولې او منيت د راتلونکي په اړه هيڅ ډول ډاډ نه ترسترګو کېږي ځکه چې د طالبانو تشه د جنګ سالارانو، سيمه ييزو غلو، د نشه يي توکو د قاچاقچيانو او فرصت طلبه ډلو په وسيله ډکه

شوه.ددې ترخنګ دبوش دوکتورینو دیادو ستونزو دحل لپاره هیڅ ډول حل لاره نه وړاندې کوله او یوازې یې دتروریزم ضدجګړې باندې ټینګار کاوه.

دامریکا حکومت او پالیسي جوړونکي په هرځای کې دتروریزم غندنه کوي مګر په افغانستان کې دملکي وګړو پرمرګ ژوبلې سترګې پټوي.

دامریکا ویرونکو او ورانونکو هوایي بریدونو دطالبانو نظامي ځواک له منځ یووړ،ځکه هغوی نه عصري وسلې درلودې او نه یې هم کوم هېوادملاتړ کاوه،یوازې اسامه بن لادن او القاعدې شبکه دهغوی ترخنګ ودریدله.

امریکا اومتحدینو یې دطالبانو دلمنځه وړلو په موخه خپلو هوایي بریدونو ته دوام ورکړ.امریکایان ترهغو پورې ځانونه بریالي نه ګڼې،څو پورې یې چې اسامه بن لادن او ملا عمرنه وي نیولي اویایې نه وي وژلي.

ملاعمر داسامه بن لادن هرکلی کړی و،ځکه نوموړي ورته پیسې اوډالۍ برابرولې،ملا عمر په افغانستان کې دبن لادن فعالیتونه له پامه غورځولي وو.ویل کیږي چې د ببلا ببلو هېوادونو تر۷۰۰۰ زرو زیاتو وسله والو په افغانستان کې دبن لادن په کمپونو کې روزنه ترلاسه کړې وه،له همدې وسله والو نه په سل ګونویې په نړیوالو ترهګریزو فعالیتونو کې برخه اخیستې وه،هغوی کولای شول څو خپل لګښتونه په خپله پیدا کړي.

امریکایي پلټونکي په دې کې پاتې راغلل،څو دالقاعدې شبکې مالي ملاتړ کونکي په نښه اویایې ونیسي.

بې له شکه امریکایانو دطالبانو دکمزوري کولو لپاره له هرې لحظې نه

ګټه پورته کړې.د امریکایانو تهدید هغو هېوادونو ته هم متوجه دی، چې ترهګرو ته ورته ډلو ته یې پناه ورکړې وي.

ترهګري یوه داسې پدیده ده، چې د یو ځانګړي دولت او هېواد په پولو پورې محدوده نه شي ګڼل کېدای، د یو څو تنو په وژلو سره د نورو توندلارو د کړنو مخه نه شي نیول کېدای، توندلارې د او سېدلو لپاره کوم ځانګړی ځای نه لري، هغوی له بېلابېلو هېوادونو نه خپلې کړنې او فعالیتونه ترسره کولای شي.د دې پدیدې د لمنځه وړلو لپاره په میلیونونو ډالره کافي نه دي، مګر د نړۍ مذهبي او قومي اقلیتونو ته د مدني آزادیو په ورکولو سره د هغې د پراختیا مخنیوی کېدای شي.د پیسو زیاته اندازه باید د وسلو جوړولو پر ځای بشرته د ټولنیزو خدمتونو د وړاندې کولو په موخه ولګول شي.

د ترهګرۍ پروړاندې جګړې نړۍ ته څه ورکړي؟ بوش او بن لادن د بې ګناه ملکي وګړو په ویرولو او وژلو کې بنکیل وو.

همدا اوس په افغانستان کې د وژل شویو بې ګناه ملکي وګړو شمیر په نیویارک کې د نړیوالې سوداګرۍ په مرکز کې د وژل شویو کسانو له شمیرنه زیات شوی.

# یادونې

۱:له رسمي اړیکو وړاندې د امریکا ځینو مذهبي استازو هڅه کړې وه، چې له افغانستان سره اړیکې رامنځته کړي دوی د هند په لودیانا ښار کې له څو پیژیندل شویو او لوړپوړیو افغان کډوالو لکه شاه شجاع او شازمان سره د اړیکو رامنځته کولو هڅې کړې وې، مګر امریکایي مذهبي استازي په دې بریالي نه شول، څو له خپل وطن څخه وېستل شویو یادو مشرانو سره اړیکې رامنځته کړي.
امان الله خان خپل ځانګړی استازی د افغانستان او امریکا ترمنځ د دوستانه اړیکو د رامنځ ته کولو امکاناتو څېړلو په موخه امریکا ته واستوه، افغان پلاوي د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر چارلز ایوانز هیوز سره لیده کاته ترسره کړل.
۲:ډیورنډ کرښه د بریتانویانو له خوا په ۱۸۹۳ز کې کښل شوې وه، له ۱۹۴۷ز پېړدیز کال وروسته افغانستان د ډیورنډ لاین د فسخې کولو غوښتنه وکړه. افغانستان له پاکستان نه وغوښتل، څو د پښتنو او بلوچو سیمې، چې بریتانویانو په ۱۹ پېړۍ کې له افغانستان نه نیولې وې بیرته ور وسپاري. دغه سیمې د پاکستان له جوړېدو وروسته په

پاکستان کې شامله شوې. دافغانستان غوښتنه داوه، چې یا خو دې دیادې سیمې اوسیدونکوته د جلا دولت د جوړېدلو اختیارورکړل شي او یادې دغه سیمې بیرته افغانستان ته وسپارل شي.

۳: هغه افغان افسران چې دشوروي اتحاد له لوري تربیه شوي وو، په ۱۹۷۸ زیږدیزکال کې یې د داوود خان په راپرزولو کې مهم او کلیدي رول ترسره کړ، هم یې افغانستان د بې ثباتۍ او ګډوډۍ په لوري روان کړاوهم یې کمونستي رژیم رامنځته کړ. د ۱۹۷۸ز یږدیزکال د ثور کودتا په افغانستان کې د تباهۍ او وینو تویېدلو سبب شوه.

۴: د کړکیچ کمولو(Détente)پالیسي د سترو ځواکونو لخوا رامنځ ته شوې وه.ددې پالیسۍ د تعقیب په پایله کې امریکا دافغانستان له مسایلو نه ځان ګوښه او لرې کړ، ترڅو په منځني ختیځ کې د خپلې اغیزې پراختیا او پرمختګ ممکن کړي.ددې پالیسۍ له مخې د امریکا استازو د شوروي اتحاد له پلاوي سره د دواړو قدرتو ترمنځ د اټومي سیالۍ د اندازې راکمولو په اړه خبرې وکړې.

۵:(ملي امنیت او کانګرس ته راپور) ملي امنتي ریاکارډ، واشنګټن فبروري ۱۹۸۰.

۶:دامریکا متحدو ایالتونو له افغان مقاومت کونکوسره د پټې مرستې پالیسي منلې وه او له شوروي اتحاد سره یې په مستقیمه توګه له مخامخ کیدو نه ډډه کوله.دولسمشر ریګن اداري له افغان مجاهدینو سره خپلې مرستې پټې ساتلې، دامریکایانو ټینګاردا وه، چې افغان مجاهدین له هغو وسلو ګټه پورته کوي، کومې چې دوی د جګړې په ډګر کې له شوروي سرتیرو نیولې.په حقیقت کې امریکا دپاکستان له لارې افغان مجاهدینو ته وسلې استولې.

## References:

Anwar, Raja. (1988). The Tragedy of Afghanistan: A Firsthand Account. London: Verso.

Bradsher, Henry S. (1999). Afghan Communism and Soviet Intervention. London: Oxford University Press.

Cooley, John K. (1999). Unholy Wars: Afghanistan, America and International terrorism. London: Pluto Press.

Corodovez, Diego and Harrison, Selig S. (1995). Out of Afghanistan: The Inside Story of Soviet Withdrawal. London: Oxford University Press.

Dupree, Louis. (1978). Afghanistan. Princeton University Press.

Emadi, Hafizullah. (1997). State, Revolution and Super Powers in Afghanistan. Karachi: Royal Book Company.

Gregorian, Vatran. (1969). The Emergency of Modern Afghanistan: Politics of Reforms and Modernization. Palo Tolo: Stanford University Press.

Gupta, Bhabani Sen. (1986). Afghanistan: Politics, Economics and Society. London: Frances Pinter Publisher.

Hammond, Thomas T. (1984). Red Flag Over Afghanistan: The Communist Coup, the Soviet Invasion and the Consequences. Colo: Westview.

Hornibrook, William. (1990, Summer). Opening Diplomatic Relations with Afghanistan. Central Asia Journal, (47).

Kakar, Hasan. (1978, May). The fall of Afghanistan in 1973. International Journal of Middle Eastern Studies. Vol.9 (2).

Khan, Ahsanur Rehman. (1991). Latent Angles of the Afghan War 1989. Rawalpindi: Izhar Sons Printers.

Khan, Riaz Muhammad. (1993). Untying The Afghan Knot. (Lahor: Progressive Publishers.

Kux, Dennis. (1996, Spring and Fall). American Changing Outlook on Afghanistan. Pakistan Journal of American Studies.

Ma'aroof, Muhammad Khalid. (1990). Afghanistan and Super Powers. New Delhi: Common Wealth Publishers.

Mackenzie, Richard. (1999, June 11). Afghan Front Resist on Capital Hill. The Insight.

Matinuddin, Kamal. (1991). Power Struggle in the Hindu Kush: Afghanistan 1978-91. Lahore: Wajidalis Publishers.

Misra, K.P. (1981). Afghanistan in Crisis. New Delhi: Vikas Publishing House.

Parker, Henry Barnford. (1955). The United States of America. A Histor. Newyork: Alfred A. Knopf,

Ritchiie, Donald A. (1985). Heritage of Freedom: History of the United States. Scribner Educational Publishers.

Rubin, Barnett R. (1995). The Search for Peace in Afghanistan: From Buffer State to Failed State. New Haven: Yale University Press.

Rubin, Barnett R. (1996). Fragmentation of Afghanistan: State Formation and Collapse in the international System. Lahore: Vanguard Books

Ruggie, Jhon Geread. (1997, Spring). The Past as Prologue. International security. Vlo. 21 (4).

Mussarat Jabeen, M. Saleem Mazhar & Naheed S. Goraya **US Afghan Relations**

Sultz, George P. (1993). Turmoil and Triumph: My Years as Secretary of State. New York. 870, 1091.

The Nation, 1988, February 19.

Vance, Cyrus. (1983). Hard Choices: Critical Years in America's Foreign Policy. New York: Simon and Schuster.

Yousaf, Mohammad and Adkin, Mark. (1992). The Bear Trap: Afghanistan's Untold Story. Jang Publishers.




چاپچارې: مومند خپرندویه ټولنې تخنیکي څانګه - جلال آباد
اړیکشمېرې:۰۷۰۰۶۲۶۱۶۱ / ۰۷۷۷۶۲۶۱۶۱